عمومي اسامبله
امنيت شورا

خپريدل: عمومي
۳ مارچ ۲۰۱۷
اصل: انګليسي

**عمومي اسامبله**
**يو اويايمه ناسته**
د اجنډا ۳۶ ماده
**د افغانستان حالت**

**د امنيت شورا**
**دوه اويايم کال**

# د افغانستان وضعيت او پر نړيواله سوله او امنيت يې اغيزې

## د عمومي منشي راپور

## لومړی: پيژندنه

۱.	دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پريکړه ليک او د امنيت شورا ۲۲۷۴ (۲۰۱۶) پريکړه ليک په تعقيب په کومو کې چې له ما غوښتل شوي وو، چې په هرو درېو مياشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم، وړاندې کيږي.

۲.	د ۲۰۱۷ د ډسمبر پر ۱۳ د پخواني عمومي منشي د راپور (A/71/682-S/2016/1049)له خپريدو راهيسې دغه راپور د سياسي، بشري، پرمختيايي او د بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعاليتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي. راپور دغه راز د افغانستان اړوند د کليدي سياسي او امنيتي پرمختګونو او د سيمه ييزو او نړيوالو پيښو لنډيز برابروي. د دغه راپور ضميمه د امنيت شورا د ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) پريکړه ليک سره سم، د ۲۰۱۶ د مارچ د ۷ نېټې راپور (A/70/775-S/2016/218) د خپريدو راهيسې د معيارونو او شاخصونو په لور د ترسره شوي پرمختګ ارزونه رانغاړي.

## دويم: اړوند پرمختګونه

۳.	حکومت لا اوس هم د پام وړ سياسي، اقتصادي او امنيتي ننګونو سره مخ دی. ولسمشر اشرف غني او اجرائيه رييس عبد الله عبد الله د خپلو کاري اړيکو د ښه کولو لپاره اوس هم په دوه اړخيزو خبرو اترو کې خپل ګډون جاري ساتلی. د جوزجان د پخواني والي د ادعا شوي توقيف او جنسي تيري په تور د ولسمشر د لومړي مرستيال عبد الرشيد دوستم د رول څيړل پيل شوي. يو شمير حکومتي پوستونه لا اوس هم خالي دي. د ټاکنو د مديريت نوو تشکيل شويو ادارو د ټاکنيزو اصلاحاتو د پلي کولو په لور او د راتلونکو ټاکنو د چمتوالي لپاره لومړنۍ ګامونه پورته کړي. حکومت دغه راز له اداري فساد سره د مبارزې خپله اجنډا پرمخ وړل جاري ساتلې. په ورته وخت کې، له ګلبدين حکمتيار څخه د بنديزونو د لرې کولو په ګډون، له اسلامي حزب ګلبدين سره د سولې تړون تطبيق پرمختګ کړی، خو د حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې په خبرو اترو کې کوم د پام وړ پرمختګ نه دی شوی. په سيمه ييزه کچه په دوه اړخيزه ښکيلتيا کې زياتوالی رامنځ ته شوي. امنيتي وضعيت اوس هم ډېر ناوړه دی، څرنګه چې په ۲۰۱۶ کال کې د امنيتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ نښتې د ريکارډ لوړې کچې ته رسيدلې وې، په ورته چټکتيا او اندازې سره په ۲۰۱۷ کال کې هم روانې دي. د ماشومانو ترمنځ په تلفاتو او داخلي بېځايه کيدنه کې د پام وړ زياتوالي له امله اوس هم د ملکي وګړو په وړاندې د لوړې کچې تاوتريخوالي ثبتول جاري دي. د سخت امنيتي وضعيت په پام کې نيولو سره د خدمتونو وړاندې کول يوه ننګونه ده. د اقتصادي ودې او پانګونې له دوامدارو ټيټو کچو سره، اقتصادي وضعيت اوس هم ماتيدونکی/نازک دی.

### الف. سياسي پرمختګونه

۴. له پخواني راپور راهيسې، ولسمشر او اجرائيه رييس د خپلو کاري اړيکو د ښه کولو لپاره خپلې هڅې جاري ساتلې. دواړو مشرانو د يوه داسې ميکانيزم په اړه خبرې اترې کړي چې د لوړې کچې ګمارنو په اړه سلا مشوره وکړي، واک سره شريک کړي او د لوړ پوړو حکومتي چارواکو ترمنځ مسووليت تفويض کړي.

۵. د ډسمبر پر ۱۳، د جوزجان پخواني والي احمد ايشچي په ښکاره د ولسمشر لومړی مرستيال د نومبر په وروستيو کې په ځو ورځو بند تورن کړ او ادعا يې وکړه چې د توقيف پرمهال ورباندې جنسي تيری شوی. حکومت د دغو تورونو د څېړلو اعلان وکړ او د ډسمبر پر ۲۱ لوی څارنوالۍ شاغلي دوستم په رسمي ډول تورن کړ. لومړي مرستيال تر اوسه د پوښتنو ګرويګنو لپاره د لوی څارنوالۍ حکم نه دی منلی. د لومړي مرستيال په جنبش ملي ګوند کې مخکښو سياسي غړو د ازبک ټولنې د ګوښه کولو په هڅه حکومت تورن کړ او له لومړي مرستيال سره يې د حکومت د چلند په وړاندې لاريونونه تنظيم کړل.

۶. ولسمشر غني د هيواد د مخالفينو د دوو سترو سياسي ډلو، د افغانستان د حراست او ثبات شورا او د ملي او جهادي ډلو عالي شورا او همدارنګه د بلخ والي عطا محمد نور په ګډون، منتقدينو او سياسي مخالفينو ته د رسيدنې هڅې جاري ساتلې. اپوزيسيون ډلو د ګمارنو او نورو امتيازاتو لپاره پر حکومت خپل فشار جاري ساتلی، خو پر ولسمشر او اجرائيه رييس يې ښکاره نيوکې راکمې کړي.

۷. د هغو اوو وزارتونو برخليک چې په نومبر مياشت کې د ولسي جرګې له خوا سلب اعتماد شوي لا اوس هم نه دی معلوم. شپږ يې لا اوس هم پر خپلو منصبونو چارې پرمخ وړي، په داسې حال کې د رايو د سلب اعتماد په اړه د سترې محکمې پريکړه ځنډيدلې. د کانونو او پټروليم د وزير، د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د رييس، د اطلاعاتو او کلتور د وزير، د معلوماتو او معلوماتي ټکنالوژي د وزير او د قبايلو د چارو د وزير په ګډون، د حکومت په دننه کې يو شمير منصبونه د سرپرستانو له خوا اشغال شوي.

۸. د جنوري پر ۲۱، د سولې د عالي شورا رييس پير سيد احمد ګيلاني ومړ. د راپورونو له مخې د ده د مړينې پر مهال حکومت د افغان سولې او پخلاينې د ملي ستراتيژي د جوړولو لپاره پر پلان جوړونې بوخت و.

۹. د حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې پروسې په لور کوم د پام وړ پرمختګ نه دی شوی. د ډسمبر پر ۱۳ د افغان حکومت تر غوښتنې وروسته، د فبروري پر ۳ د امنيت شورا تر ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) پريکړه ليک لاندې د افرادو له تور ليست څخه د دغه ګوند د مشر ګلبدين حکمتيار په لرې کولو سره، د اسلامي حزب ګلبدين ډلې سره د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر د ۲۹ نېټې د سولې موافقې په تطبيق کې پرمختګ شوي. د بنديانو د خوشې کولو او له پاکستان څخه د دغې ډلې د راستنيدونکو پلويانو لپاره د ميشت ځايونو د برابرولو په څېر د موضوعاتو په اړه له دولت سره د دغې ډلې د استازو خبرو اترو جريان درلود. کابل ته د ښاغلي حکمتيار د راستنيدنې په اړه نظر د هغه د سياسي سيالانو ترمنځ د انديښنې لامل شوی، د دوي په باور چې د ده تر مشرتابه لاندې يو موټي اسلامي حزب حکمتيار به د هيواد تر ټولو ستر سياسي ګوند وګرځي. د قربانيانو شکايتونو او د بشري حقونو شکمنو کړنو ته د ترون په بشپړې رسيدګي کې د پاتې راتلو په پام کې نيولو سره، د بشري حقونو مدافعينو د دغه ترون په اړه خپلې انديښنې څرګندې کړي.

۱۰. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) د راپور ورکولو په موده کې د سولې له ځايي نوښتونو سره په ملاتړ کې يو شمير مناسبات تسهيل کړي، څو د نورو په ګډون د ځمکې پر سر اوږد مهاله شخړې او د کشالې او شخړې نور ډولونه حل کړي.

۱۱. د ۲۰۱۶ کال په نومبر کې ټاکل شويو د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون د ټاکنيزو اصلاحاتو د تطبيق په لور او د راتلونکو ټاکنو د تياريو لپاره لومړني ګامونه پورته کړي. د ټاکنو خپلواک کميسيون خپل کار پيل کړی، په کوم کې چې حکومت ته د سپارلو لپاره د انتخاباتي حوزو په اړه تخنيکي څېړنه، د رايه اچوونکو د ثبت وړانديزونه، د انتخاباتي مرکزونو بيا ځای پر ځای کول او د ټاکنو لپاره د مهالويش ټاکل شامل دي. کميسيون دغه راز د جنوري پر ۱۷ او ۳۰ له شريکانو سره د انتخاباتي حوزو او رايه اچوونکو د ثبت په اړه مشورتي ناستې ترسره کړي. د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنو له قانون سره سم د انتخاباتي مرکزونو پر بنسټ د رايه اچوونکو د ثبت لستونو جوړولو ته خپل ژمنتوب بيا تاييد کړ، او ويلاند يې اعلان کړه چې بريښنايي تذکرې به

د رایه اچوونکو د ثبت لپاره نه کارول کیږي.د فبروري پر ۱۰، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ویاند اعلان کړه، چې د ولسي جرګې او د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې به په ۲۰۱۸ کال کې ترسره شي. د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون انتخاباتي شریکبانو ته رسیدنه کړې د جنوري پر ۳۰ نېټه یې د مدني ټولنې له سازمانونو سره یو تفاهم لیک لاسلیک کړ، کوم چې د هغوي د راتلونکې همکارۍ لپاره شرایط په ډاګه کوي.

۱۲. د ټاکنو خپلواک کمیسیون دغه راز د رییس منصب لپاره ګمارنه اعلان کړه. د جنوري پر ۱۲، کمیسیون په یوه لیک کې چې له اوو کمیشنرانو څخه یوازې څلور هغو لاسلیک کړی و، ولسمشر ته د دریو نوماندانو سپارښتنه کړې وه. د جنوري پر ۲۶، د اجرائیه ریاست ویاند په ډاګه کړه چې دغه درې نوماندان د زده کړو د نشتوالي او له پخوانیو کمیشنرانو سره د اړیکو له امله د منلو وړ نه دي. د فبروري پر ۳، د ټاکنو څارونکو ډلو پر حکومت د چوپتیا له امله نیوکه وکړه او د کمیسیون د خپلواکۍ په ساتلو سره یې د پریکړې غوښتنه وکړه.

**ب. امنیت**

۱۳. د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو په اوږدو کې عمومي امنیتي وضعیت مخ په خرابیدو و. ملګرو ملتونو ۲۳۷۱۲ پیښې ثبتې کړې، چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله نږدې ۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي او د یوناما له خوا یوازې په یوه کال کې ثبت شوی تر ټولو لوړ شمیر دی. په داسې حال کې چې جګړه په ځانګړې ډول د جنوبي او ختیځو سیمو په پنځو ولایتونو هلمند، ننګرهار، کندهار، کونړ او غزني کې پراخه ده، چیرې چې د ټولو پیښو ۵۰ سلنه ثبت شوې، جګړې خپل جغرافیایي وسعت لا پسې پراخ کړی، څرنګه چې طالبانو د هیواد په شمال او شمال ختیځو سیمو او دغه راز د لویدیځ په فراه ولایت کې خپل فعالیتونه زیات کړي. طالبانو د حکومت له خوا د فراه، کندز، د هلمند ولایت د لښکرګاه او اروزګان ولایت د ترینکوټ ولایتي مرکزونو کنترول تر فشار لاندې راوستل جاري ساتلي. د دغو ښارونو د ساتلو لپاره د نړیوالو او افغان ځواکونو هوایي ملاتړ او د افغان ځانګړو ځواکونو استول خورا مهم دي. د نومبر په وروستیو کې، طالبانو د کندهار ولایت د غورک ولسوالۍ مرکز ونیوه، چې په دې سره د طالبانو تر کنترول لاندې د ادعا شویو ولسوالیو شمیر ۱۴ ته ورسید. سربیره پر دې، د یو شمیر ولسوالیو پر کنترول جګړه شوې، چې یو شمیر راپورونه د طالبانو تر نفوذ لاندې سیمې په فیصدي کې د زیاتوالي ادعا کوي. جګړه په داسې یوه حالت کې زیاته شوې چې د حکومت د امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د وسله والو جګړو شمیر په ۲۰۱۶ کال کې ۲۲ سلنه زیات شوی، چې د ټولو امنیتي پیښو ۶۳ سلنه جوړوي او زیاتره یې د طالبانو له خوا پیل شوي. د لاس جوړ چاودیدونکو توکو بریدونه په ۲۰۱۶ کال کې راکم شوي او د تیر کال په پرتله ۲۵ سلنه کم وو.

۱۴. د ۲۰۱۶ د نومبر د ۱۸ او د ۲۰۱۷ د فبروري د ۱۴ ترمنځ، ملګرو ملتونو ۵۱۶۰ امنیتي پیښې ثبتې کړې. دا په ۲۰۱۵ کې د ورته مودې په پرتله ۱۰ سلنه او په ۲۰۱۴ کې د ورته مودې په پرتله ۳ سلنه زیاتوالي وړاندې کوي. د ۲۰۱۷ کال په جنوري کې د ثبت شویو وسله والو جګړو شمیر د ۲۰۱۶ په جنوري کې د ثبت شویو په پرتله ۳۰ لوړ شوي او ۱۸۷۷ ته یې شمیر رسیدلی، تر ټولو لوړ شمیر چې د ملګرو ملتونو له خوا په دغې میاشت کې ثبت شوي. د لاس جوړ چاودیدونکو توکو بریدونه په ۲۰۱۶ کې د ورته مودې په پرتله ۱۱ سلنه لوړ شوي. د جنوري په وروستیو او فبروري په لومړیو کې په سنګین ولسوالۍ د درنې جګړې په ګډون، طالبانو دغه راز په هلمند ولایت کې فشار زیات کړی.

۱۵. د جنوري پر ۱۰، د لاس جوړ ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د یوې ماښامنۍ پرمهال چې د ډیپلوماتانو او لوړ پوړو چارواکو کوربه و وچاودیدل، چې د متحده عرب اماراتو د ۶ ډیپلوماتانو په ګډون یې ۱۳ ملکي وګړي ووژل او ۱۹ نور یې ټپي کړل. د متحد عرب اماراتو سفیر څوک چې په دغه برید کې ټپي شوی و، د خپلو ټپونو له امله ومړ. د دغه برید مسوولیت هیڅ لوري نه دی منلی.

۱۶. افغان امنیتي ځواکونه لا اوس هم د پام وړ ننګونو سره مخ دي، په تیره بیا د عملیاتي ظرفیت په تړاو. د قوماندې او کنترول، مشرتابه او لوژیستک په برخو کې تشو او د امنیتي ځواکونو له لیکو په لوړه کچې تیښتې پر مورال، ګمارنه او ثبات د پام وړ اغیز کړی. د جګړې شدت د دواړو امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د زیات شمیر تلفاتو لامل شوي. د بیا جلب و جذب او ساتنې کچې د تلفاتو او تیښتې له لارې د رامنځ ته شویو ضایعاتو د کچو

په پرتله خورا ټيټې دي. تر فبروري پورې، د پلان شويو کچو د افغان ملي اردو د غړو او افغان ملي پوليسو د افسرانو شميرې په ترتيب سره ۸۶ سلنه او ۹۴ سلنه وې.

۱۷. د عراق او شام اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې د ننګرهار ولايت په جنوب او دغه راز په کونړ او نورستان ولايتونو کې خپل شتون ساتلی. د نړيوالو نظامي ځواکونو په ملاتړ د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د چاڼيزو عملياتو سره سره، د ۲۰۱۶ کال تر پايه، د راپورونو له مخې نوموړې ډله بيرته هغو سيمو ته ستانه شوې، چې له دوي تصفيه شوې وه.

۱۸. د راپور ورکولو په موده کې، د تښتونو د اوو پيښو، د لاس جوړ چاوديدونکو توکو اړوند د يوې پيښې، د جنايي اوو پيښو او د ملګرو ملتونو د نقليه وسيلې د غلا د يوې پيښې په ګډون ۲۱ داسې پيښې وې، چې د ملګرو ملتونو کارمندان په کې ښکيل وو.

**ج. سيمه ييزه همکاري**

۱۹. د راپور ورکولو په موده کې، د افغانستان او ګاونډيو هيوادونو ترمنځ په دوه اړخيزه ډيپلوماتيکه رسيدنه کې ځرګند زياتوالی ليدل شوی، که څه هم د افغانستان او پاکستان ترمنځ دوه اړخيزې اړيکې لا اوس هم ترينګلې دي. د جنوري پر ۱۰ په کندهار کې تر ځانمرګې بريد وروسته، د ملي امنيت سلا کار حنيف اتمر او د کندهار امنيې قوماندان عبد الرازق په ګډون افغان چارواکو په ښکاره د بريد پړه پر بهرنيو فعالينو واچوله. لاريون کوونکو په کابل کې د پاکستان سفارت او په کندهار او هرات ولايتونو کې د پاکستان قونسلګريو مخ ته لاريونونه ترسره کړل او له حکومت څخه يې له پاکستان سره د ډيپلوماتيکو اړيکو د پريکون غوښتنه وکړه. د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۳۱ نېټه، په دې وروستيو کې د پاکستان د پوځ نوې ټاکل شوي مشر جنرال جاويد باجوه له خپل افغان سيال، د افغانستان ولسمشر او اجرائيه رييس سره تليفوني اړيکې نيولې. جنرال باجوه دغه راز د جنوري پر ۱۵ ولسمشر ته د جنوري د ۱۰ د کندهار بريد د تسليت وړاندې کولو په موخه او د امنيتي موضوعګانو په اړه د همکارۍ د خبرو اترو لپاره تليفوني اړيکه نيولې وه. که څه هم په پاکستان کې تر يو شمير بريدونو وروسته دوه اړخيزه ترينګلتيا زياته شوه. لوړ پوړو پاکستاني چارواکو د دغو بريدونو پړه په افغانستان کې پر ميشتو ياغيانو واچوله. تر دغو پيښو وروسته پاکستان د هر ډول ترافيکو په وړاندې خپله پوله وتړله او د په اوږدو کې يې توغندي وويشتل، چې په افغان خاوره کې يې شکمن وسله وال په نښه کړي وه.

۲۰. د جنوري پر ۹ او ۱۰، د افغانستان د بهرنيو چارو مرستيال حکمت کرزي د افغانستان- ازبکستان د سياسي ډيالوګ لومړي دور لپاره په تاشکند کې د افغان پلاوي مشري وکړه. د جنوري پر ۱۱، اجرائيه رييس تهران ته د لوړې کچې هيئت مشري وکړه. د ليدنې پرمهال، هغه د ايران له ولسمشر حسن روحاني سره وليدل او د امنيتي او سياسي موضوعګانو په اړه يې د افغانستان په ملاتړ خبرې اترې ترسره کړې. د جنوري پر ۱۷، د بهرنيو چارو وزير صلاح الدين رباني په مشرۍ يو پلاوي د جنوري د ۱۰ د کندهار تر بريد وروسته له متحده عرب اماراتو ليدنه وکړه. ولسمشر هم د فبروري پر ۱۱ او ۱۲ له متحده عرب اماراتو ليدنه وکړه، څو د بريد د قربانيانو کورنيو ته خپل تسليت وړاندې کړي. د جنوري له ۶ تر ۸ نېټې پورې، ښاغلي رباني له مسکو ليدنه وکړه او د روسيې فدراتيف د بهرنيو چارو وزير سرګي لاروف سره يې وکتل، څو د اقتصادي او امنيتي مسلو په ګډون د يو شمير موضوعګانو د همکارۍ په اړه خبرې اترې ترسره کړي. دواړو خواوو دا مشترک دريځ چې طالبان بايد د سولې پروسې په لور په يوه رغنده ډيالوک کې شامل کړای شي، تاييد کړ.

۲۱. په سيمه ييزه کچه په دوه اړخيزه ښکيلتيا کې زياتوالی رامنځ ته شوي. شپږم د اسيا زړه د وزيرانو د کچې کنفرانس د ډسمبر پر ۴ د هند په امريتسار کې ترسره شو. د ډسمبر پر ۲۷ په مسکو کې په ترسره شوي درې اړخيز کنفرانس کې، چين، پاکستان او د روسيې فدراتيف په افغانستان کې د خرابيدونکي امنيتي وضعيت په اړه خبرې اترې ترسره کړې. د افغانستان د بهرنيو چارو د وزارت وياند په دغې ناستې کې د افغانستان په نه شاملولو نيوکه وکړه. تر دې ناستې وروسته په بله هغه کې چې د فبروري پر ۱۵ په مسکو کې ترسره شوه، ګډون د افغانستان، هندوستان او ايران په ګډون شپږو هيوادونو ته وغځول شو. تر ناستې وروسته، د روسيې فدراتيف د بهرنيو چارو وزير د يوې اعلامې په خپرولو سره د دې يادونه وکړه، چې ګډونوالو پر دې هوکړه وکړه چې د افغان سولې پروسې

د ملاتړ لپاره به خپلې هڅې ګړندۍ کوي، او اعلان يې کړه چې د افغانستان په اړه په راتلونکې ناسته کې به د منځنۍ اسيا هيوادونه هم را وبلل شي.

۲۲. د راپور ورکولو په موده کې اقتصادي همکاري هم زياته شوې. د ازبکستان د بهرنيو چارو وزير عبد العزيز کاملوف له کابل څخه د جنوري پر ۲۳ او ۲۴ ليدنه وکړه، د دغې ليدنې پرمهال د يوې دوه اړخيزې اقتصادي طرحې اعلان وشو، تر کومې لاندې به چې د دواړو هيوادونو ترمنځ کلنۍ سوداګرۍ په ۲۰۱۶ کې له ۴۲۹ ميليونه امريکايي ډالرو څخه په ۲۰۱۷ کې يو عشاريه پنځه ميلیارده امريکايي ډالرو ته لوړه شي. ښاغلي کاملوف د افغانستان له ولسمشر او اجرائيه رييس سره وکتل او له خپل افغان سيال سره يې پنځ تفاهم ليکونه لاسليک کړل.

**درېيم: بشري حقونه**

۲۳. ملکي وګړو ته د جګړې د زيان له دوامدار زياتوالي سره، په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کې د بشري حقونو وضعيت لا پسې خراب شوې. د ۲۰۱۷ د فبروري پر ۶، يوناما په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۶ کال لپاره خپل کلنې راپور خپور کړ. راپور موندلې چې ولسي وګړي په افغانستان کې د جګړې د پايلو له امله په زياتيدونکې ډول کړيږي، چې يوازې په يوه کال کې د ۲۰۰۹ کال راهيسې يوناما د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمير مستند کړي. يوناما ۱۱۴۱۸ ملکي تلفات (۳۴۹۸ مړه او ۷۹۲۰ ټپي) مستند کړي، چې د ۲۰۱۵ په پرتله ۳ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي. د جګړې اړوند تاوتريخوالي کورونه، معيشتونه، او ملکيتونه ويجاړ کړي، په زرګونو کورنۍ يې بېځايه کړي او د کال په اوږدو کې يې پوهنې، روغتيا او نورو خدمتونو ته لاس رسی محدود کړی. يوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۶۱ سلنه دولت ضد عناصرو او ۲۴ سنله دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي، د کومو چې ۲۰ افغان ملي امنيتي ځواکونو، ۲ سلنه نړيوالو نظامي ځواکونو، او ۲ سلنه دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب شوي. د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کيږي، چې ۴۲۹۵ تلفات (۱۰۷۰ مړه او ۳۲۲۵ ټپي) جوړوي، په تعقيب يې د لاس جوړ چاوديدونکو توکو چاودنې، ډله ييز او ځانمرګي بريدونه او هدفي او عمدي وژنې د تلفاتو مخکښ لاملونه ګڼل کيږي.

۲۴. يوناما د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې له خوا په بريدونو کې زياتوالی مستند کړی، چې د دولت ملکي اداري، قومي مشران او عبادت ځايونه يې په نښه کړي. ماموريت په ۲۰۱۵ کې د ۸۲ ملکي تلفاتو (۳۹ مړه او ۴۳ ټپي) په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې ته ۸۹۹ ملکي تلفات (۲۰۹ مړه او ۶۹۰ ټپي) منسوب کړي. زياتره دغه تلفات د شيعه مذهبه لړکيو په وړاندې د عمدي فرقه ييزو بريدونو له امله رامنځ ته شوي. د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې د ۲۰۱۶ کال د جولاۍ پر ۲۳، د اکتوبر پر ۱۱ او د نومبر پر ۲۱ په جلا جلا ډول د ديرو بريدونه مسووليت پر غاړه واخيست چې په کابل کې يې د ميشتې ټولنې غړي په نښه کړي.

۲۵. د راپور ورکولو په موده کې دولت ضد عناصرو د ښځو په ګډون د حکومت د ملکي چارواکو په وړاندې عمدي بريدونه جاري ساتلي. د ډسمبر پر ۲۱، طالبانو د ولسي جرګې د يوه غړي پر کور د يوه ډله ييز بريد مسووليت پر غاړه واخيست، په کوم کې چې اته ملکي وګړي ووژل شول او اوه نور ټپي شول. د دولت ضد عناصرو له خوا د جنوري پر ۱۰ د کندهار ولايت د والي پر ميشت ځای د بريد سربيره، په ورته ورځ په کابل کې د پارلمان پر اداري ودانۍ ځانمرګي بريد چې مسووليت طالبانو پر غاړه واخيست، ۳۴ ملکيان ووژل او ۷۵ نور يې ټپي کړل. د فبروري پر ۷، په کابل کې د سترې محکمې مخ ته په يوه ځانمرګي بريد کې ۲۰ ملکي وګړي ووژل شول او لږ تر لږه ۴۰ نور ټپي شول.

۲۶. ماشومان لا اوس هم له تاوتريخوالي څخه په غير تناسب ډول کړيږي. د ۲۰۱۶ په اوږدو کې، د ملکي تلفاتو د څارنې او راپور ورکونې هيوادني کاري ځواک د وژنې او ژوبلې ۱۷۰۷ پيښې تاييد کړي، چې د ماشومانو د ۳۵۱۲ تلفاتو (۹۲۳ مړه او ۲۵۸۹ ټپي) لامل شوي، چې د ۲۰۱۵ په پرتله ۲۴ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي. د ۲۰۱۶ په وروستيو دريو مياشتو کې نوموړي کاري ځواک ۴۴۰ پيښې تاييد کړي، چې د ماشومانو د ۱۰۰۹ تلفاتو لامل شوي، او له ۲۶۸ مړينو څخه ۲۰۰ يې هلکان، ۶۶ نجونې او ۲ نامعلومې وې، او د ۷۴۱ ټپيانو څخه ۵۲۰ يې هلکان، ۲۱۶ يې نجونې او ۵ نامعلوم وو. د جګړې د ښکيلو خواوو له لورې د ماشومانو د کارونې او ګمارنې په

تړاو، کاري ځواک ۵۷ پيښې مستندې کړي، چې په ۲۰۱۶ کال کې د ۹۱ هلکانو ګمارنه يا کارونه رانغاړي. زياتره دغه ماشومان د دولت ضد عناصرو له خوا ګمارل شوي يا کارول شوي.

۲۷. د ۲۰۱۶ د ډسمبر پر ۴، د عدليې وزارت په غوښتنه، يوناما په افغانستان کې د ژېکو د اصلاح د مرکزونو په اړه هر اړخيزه اروزونه خپره کړه، کومې چې د ملګرو ملتونو د نړيوالو معيارونو سره سم د خپلې ازادي څخه له محرومو ژېکو سره چلند ارزولې. په ارزونه کې يوناما په افغانستان د ژېکو په اصلاحي مرکزونو کې مثبت جريانات ملاحظه کړي، په داسې حال چې دغه راز يې د توقيف پر مهال ښوونه او روزنه او تر اصلاح وروسته د ځوانو افغانانو د پاملرنې د ښه کولو مهمه اړتيا په ډاګه کړې، څو بيرته له ټولنې سره يو ځای شي. يوناما دمګړۍ د عدليې وزارت سره د دغو سپارښتونو په پلي کولو کې مرسته کوي. د ۲۰۱۶ د ډسمبر تر ۳۱ پورې، ۱۲۲ هلکان د دولت ضد عناصرو له وسله والو ډلو سره د اړيکو، ملي امنيت د تورونو په تړاو د لويانو د حد اکثر امنيت د توقيف په مرکز کې په پروان ولايت کې توقيف شوي.

۲۸. د روغتيايي او پوهنيزو مرکزونو او کارمندانو په نښه کول اوس هم روان دي. په ۲۰۱۶ کې، يوناما ۱۱۹ د جګړې اړوند پيښې تاييد کړي، چې روغتيايي خدمتونو يا يې اړوند کارمند په نښه کړي، چې د ۲۳ ملکي تلفاتو (۱۰ مړه او ۱۳ ټپي) او د ۴۲ ملکي تښتونو لامل شوي، چې د ۲۰۱۵ له شميرو سره په سمون کې دي. سربيره پر دې، يوناما د نظامي موخو لپاره د ۲۳ روغتيايي مرکزونو نيونه او کارونه مستند کړې. د ۲۰۱۶ په وروستيو دريو مياشتو کې، د څارنې او راپور ورکونې هيوادني کاري ځواک، د خپلې ميتودولوژي په کارونې سره، ۳۱ داسې پيښې مستندې کړي چې روغتيايي مرکزونه او د روغتيا اړوند پرسونل يې په نښه کړي. په ۲۰۱۶ کال کې، يوناما د جګړې اړوند ۹۴ پيښې تاييد کړي چې پوهنيز مرکزونه د پوهنې اړوند پرسونل يې په نښه کړي، چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۲۰ سلنه کموالي وړاندې کوي، او کوم چې د ۹۱ ملکي تلفاتو (۲۴ مړه او ۶۷ ټپي) لامل شوي او په منفي ډول يې پوهنې ته د ماشومانو پر لاس رسي اغيز کړي. يوناما د جګړې د ښکيلو خواوو له لورې د نظامي موخو لپاره د پوهنيزو مرکزونو کارونې ثبتول جاري ساتلي. په ۲۰۱۶ کال کې، نومورې ادارې د ۴۲ پوهنيزو مرکزونو کارونه په ځانګړي ډول د افغان امنيتي ځواکونو له خوا، چې ۳۴ ښوونځي يې نيولې يا کارولي، مستند کړې. د ډسمبر پر ۲۵ دولت ضد عناصرو له يوې ښځې وروسته تر هغې سر پرې کړ، چې د راپورونو له مخې يې په ښکاره د طالبانو پر کړنو نيوکې وکړې. د جنوري په ۲۶ په فراه ولايت کې د طالب جنګياليو يوې ډلې يوه ۵۰ کلنه ښځه هغه مهال ووژله کله چې يې د خور څوک چې د افغان ملي پوليسو يوه آفسره وه او د دوي د پام وړ هدف وه، په پيدا کولو کې پاتې راغلل. د فبروري پر ۱، د بدخشان ولايت په فيض اباد ولسوالۍ کې، وسله والو يوه ځوانه ۱۸ کلنه ښځه ووژله، د راپورونو له مخې دغه ښځه د طالبانو د تش په نامه والي سره د واده وړانديز تر ردولو وروسته ووژل شوه. ملګرو ملتونو د ښځو د ساتنې د ټولټال ۳۷ دغه ډول مرکزونو له جملې له ۱۱ مرکزونو او د کورنيو د لارښوونې له مرکزونو سره چې په نهو ولايتونو کې د اړمنو ښځو لپاره د ژوند ژغورنې او اړين خدمتونه برابروي، خپل ملاتړ جاري ساتلی.

۳۰. د راپور ورکولو په موده کې، ولايتي ادارو د جنډر او ښځو چارو د کميټو جوړول جاري ساتلي، چې د خپلو اړوندو ولايتونو د ادارو په کارونو کې د کيفيت لرونکو واقعي نوښتونو شاملولو دنده ور سپارل شوې. دغه کميټې اوس په ۱۲ ولايتونو کې فعاليت کوي. د ډسمبر پر ۵، حکومت د ۲۰۱۶-۲۰۲۰ مودې لپاره د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړولو خپله ستراتيژي او عمل پلان په لار واچول. د جنوري پر ۹، د ملي شورا دواړو خونو، مشرانو او ولسي جرګې، د ښځو او ماشومانو پ‍ء وړاندې د ځورونې د له منځه وړلو قانون مسوده تاييد کړه. دغه قانون د ولسمشر توشيح ته انتظار باسي. د امنيت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پريکړه د تطبيق لپاره د عمل د ملي پلان د تطبيق د تمويل لپاره خبرې اترې لا اوس هم بې پايلې دي. په ورته وخت کې، د امنيت ملي شورا له سخت افراطيت سره د مبارزې طرحه کول پيل کړي او پرې له مختلفو شريکبانو سره سلا مشورې روانې دي.

۳۱. د جزائي اصلاحاتو په اړه، په جنوري کې د ۱۹۷۶ کال د جزا د اوسني قانون يوه ضميمه د ولسي جرګې له خوا تصويب او د ولسمشر له خوا توشيح شوه. د قانون دغه ضميمه د لومړي ځل لپاره د ځمکې غصب او دغه زار د شتمنيو په اړه ناسم معلومات او ناقانونه شتمني جرم ګڼي. د جزا تعديل شوی قانون د کابينې د وزيرانو

له خوا په سپتمبر کې په اصولو کې تایید شوی. د جزا قانون مخکې تر دې چې ولسي جرګې ته وړاندې شي، دمګړۍ د قانون د واکمنۍ او له اداري فساد سره د مبارزې د عالي شورا تر بیا کتنې لاندې دی.

**څلورم: د کابل پروسې تطبیق او د پرمختیایي مرستو همغږي**

۳۲. په افغانستان کې اقتصادي وضعیت لا اوس هم نازک او ماتیدونکی دی. په دې وروستیو کې د نړیوال بانک د ۲۰۱۶ کال د ارزونو له مخې د ودې اندازه یوه عشاریه ده سلنه ده، چې د ۲۰۱۵ په پرتله یو معتدل زیاتوالي په ډاګه کوي، خو بیا هم د پخوانیو وړاندوینو په پرتله په حد اقل ډول ټیټ دی. حکومت خپل مالي اصلاحات جاري ساتلي، په ډسمبر کې یې په راپور ورکولو سره په ډاګه کړې، چې د ۲۰۱۵ په پرتله په ساحې ارزښت کې په ۳۴ سنله او په حقیقي قیمت کې ۲۷ سلنه له زیاتوالي سره، په ۲۰۱۶ کال کې یې د داخلي عوایدو د راغونډولو لپاره د پیسو د نړیوال صندوق اهداف پوره کړي. خو له دې سره سره، د امنیتي وضعیت او د سوداګرۍ لپاره د هیواد له خوا د مناسبې کچې په اړه د پانګوالو اندیښنو په منفي ډول د هغوي پر باور اغیز کړی.

۳۳. د ۱۳۹۶ مالي کال (۱۷/۲۰۱۶) لپاره مالي بودجه د ولسي جرګې له خوا تصویب او د جنوري پر ۲۳ رسما اعلام شوه. د ۶,۴ میلیارده امریکایي ډالرو ملي بودجه د تیر کال د بودجې په پرتله ۷,۷ سلنه راکمه شوې. د ۴۱۵ میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات دغه ستر کمښت د کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت لپاره له بودجې څخه د سونګ توکو د پیر لګښتونو د ایستلو له امله دی، کوم چې اوس مهال د دوه اړخیزو تدارکاتو له لارې چمتو او وړاندې کیږي. نور کموالي د روغتیا او اقتصادي حکومتولۍ او دغه راز د زیربنا لپاره په پرمختیایي بودجو کې د راکمونې له امله و، که څه هم تمه کیږي چې وروستی سکتور به د ۱۷/۲۰۱۶ لپاره د پرمختیایي لګښتونو له نیمه یې زیاته برخه ترلاسه کړي. د حکومت له خوا د پرمختیایي پروژو بودجه هم د تیر کال د بودجې په نسبت ۸ سلنه راکمه شوې.

۳۴. د ملګرو ملتونو هیوادنۍ ټیم د ملګرو ملتونو د پرمختیایي مرستو د چوکاټ منځ مهاله بیا کتنه پیل کړې. د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ له لارې د ځان بساینې د تطبیق په اړه د ۲۰۱۶ په اکتوبر کې په بروکسل کې له ترسره شوې ناستې وروسته په ترسره شویو خبرو اترو کې، په کابل کې یو شمیر مرستندویانو په ډاګه کړه چې دوي په ورته ډول د ستراتیژیکې پلان جوړونې یا بیا کتنې په ورته چارو بوخت وو او پر دې یې هوکړه کړې چې د مشترکې اړوندې شنې په موخه سره خبرې اترې همغږي کړي. د راکمیدونکي لاس رسي، په پرمختیا کې د استخراجي صنعت د رول، د بشري او پرمختیایي نوښتونو ترمنځ د اړیکو، د کارونو د رامنځ ته کولو ننګونو، د مدني ټولنې له سازمانونو سره د ښکیلتیا او باور، د ارقامو د سمبالولو او تفسیرولو په زمینه کې د خدمتونو د وړاندې کولو پر اهمیت له ټینګار سره، دغه ډول خبرې اترې د جنوري پر ۱۹ په کابل کې پیل شوې.

۳۵. حکومت له اداري فساد سره د مبارزې د خپلې اجنډا تعقیبول جاري ساتلي. د جنوري پر ۲۹، له اداري فساد سره د مبارزې د مرکز نوې دایمي ودانۍ په کابل کې پرانستل شوه. تر اوسه، دغه مرکز د ۳۶۰۰۰۰ امریکایي ډالرو اختلاس د قضیې په ګډون چې نهه تورن په کې ښکیل دي، شپږ لومړنۍ قضیې څیړلي له کومو چې د دریو هغو سزاګانې په استیناف محکمه کې هم تایید شوي. د جنوري پر ۹، له اداري فساد سره د مبارزې مرکز محکمې د کورنیو چارو وزارت یو جنرال د بډو په تور محاکمه او پر ۱۴ کلن بند محکوم کړ. د فبروري پر ۱۵، د پولیسو د یوې حوزې آمر د پیسو پریمنځلو په تور محاکمه او پر درې کلن بند محکوم شو. د مرکز څارنوالانو په دې وروستیو کې د ښاري پراختیا د وزیر مرستیال د سلګونو میلیونو امریکایي ډالرو پر اختلاس تورن کړی. د ده محکمه لا تر اوسه ځنډیدلې. له اداري فساد سره د مبارزې د ملي ستراتیژۍ او له اداري فساد سره د مبارزې د قانون د طرحو په اړه سلا مشورې لا اوس هم رواني دي، څو د مخنیوي او څارنې په حکومتي ادارو کې اصلاحات رامنځ ته کړي.

۳۶. د کابینې وزیرانو د ۲۰۱۶ د ډسمبر پر ۷ د اراضي د خپلواکې اداري د ځمکو د تنظیم قانون طرح تایید کړه. طرحه به د ولسي جرګې تصویب لپاره د ۲۰۱۷ کال د مارچ پر ۶ تر بیا توحید وروسته وړاندې شي. د قانون دغه طرحه د ځمکې لاندې کول (غصبول) جرمي ګڼي، د ځمکې په ثبت او په نښاني کولو کې د اداري رول تقویه کوي او د ښځو له خوا د ځمکې اجاره نیول لپاره پراخ حفاظت او ملاتړ برابروي.

۳۷.	حکومت په ځايي کچه د حکومتولۍ د ښه کولو لپاره خپلې هڅې جاري ساتلې. د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکې اداري د ظرفيت جوړونې، ځارنې او ارزونې د خپلو ټولو پروګرامونو د بيا جوړښت لپاره ګامونه پورته کړي. د جنوري پر ۲۴، د حکومتي ادارو لپاره د ظرفيت جوړونې نوې ستراتيژۍ په پام کې ونيول شوه. په ځايي کچه په ټولو ادارو کې د جنډر د نظريو په پام کې نيولو په موخه، د ورتيا پر بنسټ د جنډر د ۳۴ کارپوهانو او د ځارنې او ارزونې د ۴۳ کارپوهانو ګمارنه ترسره شوه. دغه کارپوهانو به د والي له دفتر څخه بهر ځای پر ځای کيږي. په ۲۰۱۶ کال کې، د ورتيا پر بنسټ د ملکي خدمت د ګمارنې د يقيني کولو د حکومت د هڅو د يوې برخې په څير، ټولې ګمارنې د ورتيا پر بنسټ د پروسې له لارې ترسره شوې، چې په دې سره د ورتيا پر بنست د ګمارنو ټولټال شمير ۵۳ (۱۴ سلنه) ولسوالانو، پنځه (۱۵ سلنه) والي مرستيالانو ته لوړ شو. ټولټال ۱۲ ښاروالان (۱۲ سلنه) په مستقيم ډول د ولسمشر له خوا ګمارل شوي.

۳۸.	په افغان ملي پوليسو کې د ښځينه آفسرانو شمير د تقويه کولو لپاره، د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام په مرسته ۲۵۰ ښځو ته د ترکيې په سيواس کې روزنه ورکړل شوه. دغو ښځو د جنوري پر ۵ خپل څلور مياشتنی روزنيز پروګرام بشپړ او په افغان ملي پوليسو کې پر منصبونو وګمارل شوې. له دې سره سره، په پوليسي ځواک کې د ښځينه پوليسو افسرانو ټولټال شمير تر ۲ سلنې ټيټ دی.

### پنځم. بشري مرستې

۳۹.	د جګړې له امله د داخلي بېځايه کيدنو د ريکاډ کچې په شمير سره په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو کې بشري وضعيت لا پسې خراب شوي، يو داسې وضعيت چې له پاکستان څخه له ۶۲۰۰۰۰ څخه د زياتو کډوالو او بيرته راستنيدونکو له راستنيدنې سره مل و. په ۲۰۱۶ کال کې د هيواد په ۳۴ ولايتونو کې د داخلي بېځايه شويو وګړو شمير ۶۵۱۷۵۱ ثبت شوی، چې له ۴۵ سلنې زيات يې د اکتوبر او ډسمبر ترمنځ بېځايه شوي. په ۲۲۰ ولسواليو کې د جګړې له امله د بېځايه کيدنې په ثبتولو او د ۲۰۱۵ کال په پرتله د ۳۸ سلنه زياتوالي سره، دا په سيمه کې د بېځايه شويو وګړو تر ټولو لوړ شمير دی. په ۲۰۱۷ کې تر دې دمه، ۱۲۸۶۳ وګړي نوي بېځايه شوي، چې له ۳۴ په ۱۷ ولايتونو لا د مخه تر يوه بريده بېځايه کيدنه ثبت شوې. د ملګرو ملتونو ادارو او نا دولتي سازمانونو د بېځايه شويو وګړو لپاره د نغدو پيسو، روغتيايي خدمتونو او تدارکاتو، سرپناه، خوراکي او غير خوراکي توکو په ګډون، بشري مرستې برابرې کړي.

۴۰.	د ۲۰۱۶ په دويمه نيمايي کې، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنري د خپلې خوښې راستنيدنې د پروګرام له لارې په زيات شمير کې د کډوالو په راستنيدلو سره وضعيت لا پسې کړکيچن شو. د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې، ټولټال ۳۷۰۱۰۲ افغانان چې د کډوالو په څير ثبت شوي وو له پاکستان، ۲۲۹۰ له ايران او ۱۸۵ له نورو هيوادونو څخه افغانستان ته راستانه شوي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنري د ډسمبر پر ۱۵ د ژمۍ مودې د وقفې لپاره د نغدو مرستو په مرکزونو کې خپل فعاليتونه وځنډول. د افغانستان، پاکستان او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنري ترمنځ د ۲۰۱۷ د فبروري پر ۱۵ يوه درې اړخيزه ناسته ترسره شوه، او د دې پريکړه وشوه چې بيرته راستنيدنې پروګرام د اپريل پر لومړۍ نېټه بيرته پيل شي. د پراخې ځارنې د پايلو سره سم، بيرته راستنيدونکې نغدې مرستې (د هر نفر پر سر ۴۰۰ امريکايي ډالر) د خپلو لومړنيو اړتياوو په پوره کولو لګوي. په عمومي ډول نغدي مرستې د دوو تر دريو مياشتو پورې ځغول شوې وې.

۴۱.	دغه راز د ۲۰۱۶ کال د لومړيو شپږو مياشتو د ۳۴۰۰۰ په پرتله په وروستيو شپږو مياشتو کې له ۲۱۴۰۰۰ راستنيدونکو سره له پاکستان څخه د نا ثبت شويو افغانانو را ايستنه او راستنيدنه د پام وړ زياته شوې، چې په دې سره په ۲۰۱۶ کال د راستنيدونکو ټولټال شمير ۲۴۸۱۸۹ ته لوړ شوی. دغه جريان په ۲۰۱۷ کې هم دوام درلود؛ د فبروري تر ۱۱ پورې، له پاکستان څخه ۸۳۰۰ نا ثبت شوي افغانان راستانه شوي، دغه شميرې د ۲۰۱۶ کال له ټولې ربع له شميرو (۹۳۳۵ راستنيدونکي) سره کابو برابرې وې. له ايران څخه د راستنيدونکو کچه اوس هم ثابته ده، چې په منځنۍ ډول هره مياشت له ۳۰۰۰۰ تر ۴۰۰۰۰ پورې ده. دغه جريان په ۲۰۱۷ کې هم دوام درلود؛ د ۲۰۱۷ کال د فبروري تر ۱۱ نېټې پورې، له ايران څخه ۳۹۱۵۱ نا ثبت شوي افغانان هيواد ته راستانه شوي. له پاکستان څخه په راستانه شويو افغانانو کې، ۷۵۶۳ په خپله خوښه هيواد ته راستانه شوي او ۷۳۷ نور هغه رايستل شوي. له ايران څخه په راستانه شويو افغانانو کې، ۲۰۹۱۲ په خپله خوښه هيواد ته

راستانه شوي او ۱۸۲۳۹ نور هغه رایستل شوي. له پاکستان څخه راستنیدونکو په دغه هیواد کې د هستوګنې پر مهال د رایستنې د ویرې په ګډون زیاته څارنه او بې باوري د دغه هیواد د پرېښودو د عمده لاملونو په څیر یاد کړي. اټکل کیږي چې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري د راستنیدنې پروګرام په پیل سره به دغه شمیرې لوړې شي.

۴۲. په افغانستان کې زیاتره نوې داخلي بېځایه شوي وګړي او بېرته راستنیدونکي د جګړې د شدت او د توکو د لوړو بیو او دغه راز د راستنیدونکو د لوړې کچې د میشتیدنې په سیمو ، په ځانګړي ډول، په بغلان، کابل، کندز، لغمان او ننګرهار ولایتونو کې د خدمتونو او کارونو د نشتون له امله د دویم ځل یا تکراري بېځایه کیدنې په وړاندې زیانمنیدونکي دي. که څه هم، د جلال اباد او کابل ښاري مرکزونه د خوښې وړ منزل ګرځیدلي په تیره بیا د نا ثبت شوي راستیدونکو لپاره، په ښاري سیمو کې د جذب ظرفیت په ځانګړي ډول ځمکې ته د لاس رسي، روغتیایي پاملرنې او پوهنې په برخه کې، محدود دی. د بیرته راستنیدونکو او داخلي بېځایه شویو وګړو لپاره د پالیسۍ چوکاټ چې د ملاتړ د همغږۍ ، د میشتیدنې د خپلې خوښې، د بیرته راستنیدونکو او د داخلي بېځایه شویو وګړو لپاره د پیژند پاڼو د برابرولو په څیر مسلو ته رسیدګي کوي، د فبروري پر ۱۴ تصویب شو.

۴۳. په ۲۰۱۶ کال کې اروپا ته د افغانانو کډوالي راکمه شوې. د سمندر له لارې له نږدې ۴۲۰۰۰ تلونکو څخه ۳۶۲۰۰۰ یې افغانان دي، چې د ټولو هغو ۱۲ سلنه جوړوي. دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله د پام وړ کموالی دی، کله چې له اټکل شویو یو میلیون تلونکو څخه افغانانو ۲۱ سلنه جوړوله. په ورته وخت کې د ۲۰۱۶ په اوږدو کې له اروپا څخه د راستنیدونکو شمیر د پام وړ زیات شوي، چې د کډوالۍ د نړیوالې ادارې له خوا په ۲۰۱۵ کې د ۱۴۱۹ په پرتله له ۶۸۶۴ بیرته راستنیدونکو سره مرسته شوې. د ۲۰۱۶ د نومبر د لومړۍ او ۲۰۱۷ د فبروري د ۱۱ ترمنځ، د کډوالۍ نړیوالې اداري له اروپا څخه د ۱۰۴۵ خپلې خوښې له راستنیدونکو سره مرسته کړې. د مني په اوږدو کې د افغان دولت او یو شمیر اروپايي هیوادونو ترمنځ د قبولۍ څو اړخیز تړونونه لاسلیک کړي. سربیره پر دې، حکومت او اروپايي اتحادیې د کډوالۍ د مسلو په اړه پر یوې ګډې طرحې هوکړه وکړه کومه چې د قبولي او راستنیدنې په اړه احکام رانغاړي.

۴۴. په ۲۰۱۶ کال کې افغانستان له پاکستان څخه د پام وړ شمیر کډوالو کوربه و، څوک چې په شمالي وزیرستان کې د نظامي عملیاتو له امله چې په ۲۰۱۴ کې پیل شوي وو، کډوالۍ ته اړ شوي وو. د ۲۰۱۶ کال په پای کې د دغو کډوال شمیر ۱۲۵۰۰۰ و. زیاتره کډوال له قومي خواخوږۍ سره په کوربه ټولنو کې میشت شوي، که څه هم د نږدې ۲۰۰۰۰ افرادو لپاره په خوست ولایت کې یو پنډغالي جوړ شوی. بشري همکارو ادارو د ځان بسایني د ودې او د تر ټولو زیاتو زیانمنیدونکو افرادو اړتیاوو ته د رسیدګي پر منځګړیتوبونو تمرکز کاوه. د ۲۰۱۷ په لومړیو کې، د کډوالو د مشرانو او د پاکستان په فدرالي ډول اداره کیدونکو قبایلي سیمو د استازو ترمنځ یوه هوکړه ترسره شوه، چې په پایله کې یې یو کم شمیر کډوال بیرته پاکستان ته ستانه شول. په پاکستان کې په خپلو اصلي میشت ځایونو کې د هغوي د ساتنې/خوندیتوب او له ټولنې سره د یو ځاي کیدو د مرستو د شتون په اړه د ډاډ د ترلاسه کولو د ځنډ له امله، زیاترو کډوالو په افغانستان کې د پاتې کیدو اراده څرګنده کړه.

۴۵. د بشري لاس رسي په وړاندې خنډونه لا اوس هم موجود دي، چې زیاتره د نا امنیو له امله دی. په ۲۰۱۵ کې د ۲۵۵ په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ټولټال ۲۰۰ داسې پیښې ثبت شوي، چې نا دولتي اداري، ملګري ملتونه او د بشرپالنې نور سازمانونه یې اغیزمن کړي. د تیر کال د ۶۶ وژل شویو او ۹۱ ټپي شویو په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې په ټولیز ډول ۱۵ مرستندویه کارمندان وژل شوي او ۲۶ نور ټپي شوي. په ۲۰۱۶ کال کې ټولټال ۱۲۱ مرستندویه کارمندان تښتول شوي. د ۲۰۱۶ کال په جنوري کې د ۱۷ پیښو په پرتله د ۴۲ راپور شویو پیښو سره د ۲۰۱۷ کال په جنوري کې د مرستندویه کارمندانو په وړاندې د پیښو شمیر زیات شوی. په ټول هیواد کې د جنوري په اوږدو کې د ۲۹ پیښو په پیښیدو سره، د روغتیا اړوند کارمندان او مرکزونه لا اوس هم اغیزمن کیږي. د فبروري پر ۸، د سرې صلیب د نړیوالې کمیټې داخلي کارمندان چې په جوزجان ولایت کې یې سفر کاوه تر برید لاندې راغلل او شپږ یې ووژل شول. په امنیتي پیښو کې عمومي کموالي تقویه شویو امنیتي تدابیرو او د بشري شتون راکم شوي شتون ته منسوب شوي. د امنیتي ستونزو او د لاس رسي د محدودیتونو له امله د پولیو د له منځه وړلو هڅې په ځانګړي ډول ننګول شوي. د لاس رسي په اړه تر ډیالوګ وروسته د افغانستان په ختیځ کې لاس رسی

ښه شوی، او د ۲۰۱۶ په اګست کې د معافیت په ملي کمپاین کې د ۷۳۳۵۵ شمیر د لاس رسي نه وړ ماشومانو په ډسمبر کې ۱۷۴۸۸ ته راکښته شوی.

۴۶. د وروستیو یا پخوانیو جګړو سیمو ته د افغان راستنیدونکو زیانمنیدونکو د شمیر له امله، ملګرو ملتونو او د ماین پاکۍ همکارو ادارو د ماینونو او له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو د خطر په اړه راستنیدونکو ته پوهاوي ورکړی. له جنوري راهیسې، ۱۶۳۹۱ بیرته راستنیدونکو دغه ډول پوهاوي ترلاسه کړی. سربیره پر دې، د ۲۰۱۶ د نومبر د لومړۍ او د ۲۰۱۷ د جنوري د ۳۱ ترمنځ موده کې، د ماین پاکۍ همکارو ادارو د ماین پاکۍ خدمتونو اداري په همغږۍ ۳۷ ټولنې له ماینونو څخه پاکې اعلان کړې. په دې سره په ۱۲،۰۵ کیلو متره ساحه کې نږدې ۱۰۰۰۰ په خپلو ټولنو کې د ازاد تګ راتګ جوګه کوي، څو خپلې زده کړې تعقیب او کرنیز او سوداګریز فعالیتونه ترسره کړي. د فشاري ماینونو د لاس جوړ چاودیدونکو توکو وسیلو د دوامدار ګواښ سره سره اټکل کیږي چې ۳۶۳۵ د ماینونو ساحې، ۳۱۸ د جګړې ډګرونه او ۵۹ د مرمیو ګذارولو ککړ میدانونه ۱۵۲۷ ټولنې اغیزمنې کوي.

۴۷. د ۲۰۱۷ د جنوري پر ۲۱، حکومت او ملګرو ملتونو د بشري غبرګون د پلان لپاره د ۵۵۰ میلیونه امریکايي ډالرو غوښتنه وکړه، چې موخه یې د ۵،۷ میلیونه وګړو د خورا مهمو اړتیاوو پوره کول دي. د دوامداره او پراخې جګړې په پایله کې د وګړو د زیاتې بېځایه کیدنې له امله دا یو ۱۳ سلنه زیاتوالی دی. په عموم ډول، شا و خوا ۹،۳ خلک بشري مرستو ته اړتیا لري. په ۲۰۱۶ کال کې د بشري غبرګون پلان ۸۳،۸ سلنه تمویل شوي. په ۲۰۱۶ کال کې د بشرپالنې عمومي تمویل ۵۳۵،۴ میلیونه ډالرو ته ورسید. له دغه مقدار مرستو څخه، د غوښتل شویو ۳۳۹ میلیونه امریکايي ډالرو ۲۸۴،۱ میلیونه امریکايي ډالر د هغو فعالیتونو لپاره ځانګړې شول، چې د بشري غبرګون په پلان کې پیش بیني شوي وو.

**شپږم. له نشه يي توکو سره مبارزه**

۴۸. په ۲۰۱۵ کې تر کموالي وروسته، د راپور ورکولو په موده کې د کوکنارو کښت او د اپینو تولید یو ځل بیا لوړ شوی. له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت د ملګرو ملتونو په ملاتړ د ۲۰۱۶ کال لپاره د افغانستان د آپینو د څیړنې بشپړ راپور خپور کړ. څرنګه چې یې مخکې خبر ورکړل شوي، د ۲۰۱۵ په پرتله د کوکنارو په کښت کې ۱۰ سلنه زیاتوالي او د آپینو په تولید کې ۴۵ سلنه زیاتوالي ملاحظه شوي. دغه زیاتوالي د هر هکتار ځمکې په سر د زیات حاصل او د دغه حقیقت له امله دې چې پر کوکنارو کرل شویو سیمو په پاکولو کې ۹۱ سلنه کموالي رامنځ ته شوي. د ۲۰۱۶ کال دنومبر د لومړۍ او د ۲۰۱۷ کال د جنوري د ۳۱ تر منځ، د افغانستان قانون نافذوونکو چارواکو د نشه يي توکو پر وړاندې ۵۱۷ عملیات ترسره کړي چې په پایله کې یې ۱۰۷۶ کیلو ګرامه هیروین، ۲۳۶۰۰ کیلو ګرامه مورفین، ۱۵۳۷۰ کیلو ګرامه آپین، ۴ کیلو ګرامه میتامفیتامین، ۲۶۶۹۳۳ کیلو ګرامه چرس، ۶۸۶ کا-ټابلیټونه، ۳۲۰۲۴ کیلو ګرامه جامد کیمیاوي پیش سازه توکي او ۱۰۹۲۴ لیټره کیمیاوي پیش سازه مایع توکي ضبط کړي. سر بیرې پر دې، ۵۸۳ شکمن کسان نیول شوي، د هیروئینو د پروسیس ۲۵ لابراتوارونه له منځه وړل شوي، او ۱۲۶ نقلیه وسیلې، ۳۹ میله وسلې او ۱۰۲ ګرځنده موبایلونه او اوه مخابرې ضبط شوي. له نشه يي توکو سره د مبارزې په جریان کې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو یو غړي وژل شوي او شپږ نور ټپي شوي.

۴۹. له نشه يي توکو سره د مبارزې نوي قانون کوم چې په ۲۰۱۶ کال د وزیرانو شورا له خوا تایید شو، اوس په ولسي جرګه کې دی. د جنوري پر ۲۷، د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو دفتر په افغانستان د مصنوعي نشه يي توکو د وضعیت په اړه خپله لومړنۍ ارزونه خپره کړې، نوموړې اداري په ډاګه کړه چې د میتامفیتامین کارونه د پوډرو د کارونکو ترمنځ یو ثابت عمل ګرځیدلی. نه یوازې دا چې په افغانستان کې د قانون نافذوونکو چارواکو له خوا میتامفیتامین په زیاتیدونکي ډول ضبط کیږي، بلکې د هیواد په لویدیځو برخو کې د دغو توکو د جوړولو د مرکزونو شواهد هم لیدل شوي.

۵۰. د پالیسي د مشورتي ګروپ دیارلسمه ناسته د ۲۰۱۷ د فبروري پر لومړۍ او دویمه نېټه په ویانا کې ترسره شوه. له ۳۰ هیوادونو او ۱۱ ادارو څخه له سلو زیاتو ګډونوالو د ویانا پریکړه د سیمه ییزې همکارۍ او نوښتونو، نا قانونه مالي بهیرونو، پیشګیرانه کیمیايي توکو، او د نشه يي توکو د تقاضا راکمولو څلورو برخو په اړه

خبرې اترې ترسره کړې. د افغانستان، پاکستان او ایران ترمنځ د درې اړخیز نوښت د لوړ پوړ چارواکو دولسمه ناسته د فبروري پر ۳ په ویانا کې ترسره شوه څو د پرمختګ په اړه فکر وکړي او د نشه يي توکو قاچاق ته په ګډه رسیدګۍ کې د راتلونکې همکارۍ په لټه کې شي. درې واړو هیوادونو د سرحدي ولایتونو د قوماندانونو ترمنځ د پولو د ناستو د میکانیزمونو او د معلوماتو او استخباراتو د شریکولو لپاره له نشه يي توکو سره د مبارزې د پالیسي د طرحه کولو، او له نشه يي توکو سره د مبارزې د ادارو د دریو واړو هیوادو د مشرانو ترمنځ د منظمو ناستو د ترسره کولو په ګډون، د پولو د بشپړ عملیاتي او سخت کنترول د ګډې پلان جوړونې لپاره خپلې ژمنې نوې کړې.

**اوم. د ماموریت ملاتړ**

۵۱. د ۲۰۱۶ کال دنومبر د لومړۍ او د ۲۰۱۷ کال د جنوري د ۳۱ تر منځ، یوناما د سړک له لارې ۱۹۵ او د هوا له لارې ۱۶ ماموریتونه او همدارنګه د لاسرسي ۵۸۰ معکوس ماموریتونه ترسره کړي د کومو په نتیجه کې چې د ولسوالیو استازو د یوناما له ساحوي دفترونو څخه لیدنه کړې.

**اتم. ملاحظات**

۵۲. افغانستان لا اوس هم له یو لړ پیچلو ننګونو سره مخ دی. ورځ تر بلې ناوړه کیدونکې جګړه د ولسي مرګ ژوبلې او د داخلي بېځایه کیدنې د ریکاډ کچې شمیر لامل شوې. د راستنیدونکو کډوالو او نا ثبت شویو افغانانو زیاتیدونکې شمیر پر ټولنیزو او اقتصادي شرایطو د لا زیات فشار او محدودیت لامل شوي. حکومت هم له دواړو کورنیو او بهرنیو سیاسي ننګونو سره مخ دی. د دغو ټولو ننګونو حل کول د حکومت پیاوړې هوډ ته اړتیا لري. په دې برخه کې به د ولسمشر او اجرائیه رییس ترمنځ همغږې شوې کاري اړیکې خورا حیاتي وي.

۵۳. زه د ټاکنیزو اصلاحاتو د لا زیات تطبیق په لور د دوامداره ګامونو او د پارلماني ټاکنو لپاره د تیاریو په لور د خوځښت هرکلی کوم. د باوري او شفافو ټاکنو ترسره کولو لپاره په لوړه کچه د حکومت ژمنتوب هیله بخښوونکی دی. په کومه کچه چې ټاکنیز اصلاحات خورا مهم دي، هماغه ډول پر اصلاحاتو، ادارو او ډیموکراتیکو کړنو د خلکو باور زیاتول هم مهم دي.

۵۴. حکومت د عایداتو د راغونډولو په ګډون، د خپل مالي مدیریت د ښه کولو لپاره هڅې ترسره کړي. د لومړي ځل لپاره، د روان کال زیربنايي لګښتونو له پرمختیايي هغو زیات تر لاسه کړي. په اوږد مهال کې، د زیربنايي پرمختیا او په بشري پانګه کې بسیا پانګونه د ټولنیزې ودې او پر دولت د خلکو باور بسیجولو لپاره حیاتي دي. په زیاته کچه د هیواد ځوان کول دواړه، د استخدام رامنځ ته کولو په برخه کې ننګونه او د هیواد د راتلونکې لپاره یو مهم فرصت رامنځ ته کوي.

۵۵. په ځانګړې ډول له اداري فساد سره د مبارزې د عدلي مرکز په عملیاتي کولو سره حکومت له اداري فساد سره د مبارزې خپله اجنډا مخ ته وړې. دا به مهمه وي چې دغه لاسته راوړنه رامنځته شي څو د اداري فساد په وړاندې د حکومت پراخه اجنډ په بشپړ ډول درک او پر ادارو يې د خلکو او مرستندویانو باور زیات کړي.

۵۶. د وسله والو ښتو او ډله ییزو بریدونو په زیاتیدو سره جګړه یو ځل بیا سخته شوې. افغان امنیتي ځواکونه د نړیوالو نظامي ځواکونو په ملاتړ د جګړه ییزو عملیاتو د تشدیدولو په رڼا کې خپل مقاومت ښودلی. په ۲۰۱۶ کال کې په ورسا کې د ناټو په سر مشریزې کې د ترسره شویو ژمنو سره سم، له افغان امنیتي ځواکونو سره دوامدار نړیوال ملاتړ خورا مهم دی. د تلفاتو د لوړې او زیاتیدونکې کچې په پام کې نیولو سره، په راتلونکي کال او تر هغه هاخوا د افغان امنیتي ځواکونو د ثبات د یقیني کولو لپاره پیاوړی سیاسي مشرتابه، د قوماندې او کنټرولو جوړښتونو د تقویه کولو لپاره موثر تدابیر، عملیاتي ظرفیت او مورال ډېر مهم دي.

۵۷. ولسي وګړي اوس هم د جګړې درنه بیه پرې کوي. یوناما په یوه کال کې د ملکي تلفات تر ټولو لوړ شمیر ثبت کړی. د وژل شویو او ټپي شویو ماشومانو لوړیدونکی شمیر د منلو نه دی. زه د جګړې پر ښکیلو خواوو غږ کوم چې ولسي وګړو وژل او ټپي کول ودروي او د بشرپالنې او بشري حقونو له نړیوالو قوانینو څخه د سرغړونو لپاره د احتساب پر اړتیا ټینګار کوم. د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمونې د ملي ستراتیژۍ بشپړ تطبیق تر ټول اړین

دي. د روغتيايي او پوهنيزو مرکزونو او روغتيا او پوهنې اړوند کارمندانو په وړاندې بريدونه بايد پای ته ورسول شي.

۵۸. بېځايه کيدنه په ۲۰۱۶ کال کې خپلو لوړو کچو ته ورسيده. روان کال د کډوالو او نا ثبت شويو افغانانو په ګډون له پاکستان څخه د لا زياتې راستنيدنې تمه کيږي. په افغانستان کې زياتره داخلي بېځايه شوي وګړي او راستنيدونکي افغانان د دويم ځل يا تکراري بېځايه کيدنې په وړاندې زيانمنيدونکي دي، کوم څه چې د دغو وګړو لپاره ناوړه پايلې لري او دوي د اوږد مهالې بې وزلۍ په دام کې د ګيريدو له ګواښ سره مخ کوي. زه د بېځايه کيدنې او بيرته راستنيدنې په اړه د افغان حکومت په پاليسي کې د وړانديز شويو بدلونونو هرکلی کوم. د زيات شمير راستانه شويو يا څوک چې را ستنيدونکي دي د جذب او ادغام لپاره منځ مهالو او اوږد مهالو پروګرامونو ته اړتيا لري څو په بريا سره د هغوي اقتصادي او ټولنيز ادغام يقيني شي. زه د دغې مسلې په حل کې د حکومت د ښکيلتيا او ژمنتوب قدرداني کوم او له نړيوالو همکارانو په دغو هڅو کې د حکومت د ملاتړ غوښتنه کوم.

۵۹. ناوړه امنيتي وضعيت او پر ولسي وګړو يې اغيز په افغانستان کې بشري ناورين لا پسې ژور کړی. د فوق العاده بشري اړتياوو په پام کې نيولو سره، د ۲۰۱۷ د بشري غبرګون د ملي پلان لپاره پياوړي نړيوال ملاتړ او بسيا تمول ته اړتيا ده.

۶۰. پر ولسي وګړو د جګړې زيان همدارنګه د جګړې د سياسي حل اړتيا په ډاګه کوي. سوله يوه حتمي او لازمي چاره ده. د دولت او اسلامي حزب ګلبدين ترمنځ د سولې تړون تطبيق جاري دی. د حکومت او افغان وګړو د ارادې څرګندولو لپاره د تړون په اړه پرمختګ مهم دي، څو يوه عادلانه سوله رامنځ ته شي. په ورته ډول د سولې يوې پروسې لپاره چې په پياوړي ډول برقراره شي د نړيوالو مکلفيتونو رعايت کولو ته د حکومت ژمنتوب خورا مهم دي، څو د جګړې د ښکيلو خواوو له خوا د تيرو سرغړونو لپاره احتساب او دا يقيني کړي چې د قربانيانو حقونه په مرکزيت کې قرار لري.

۶۱. زه د دولت او طالبانو ترمنځ د مستقيمو خبرو اترو په لور د کوم محسوس پرمختګ د نشتون له امله خواشينی يم. په هره پروسه کې د سيمه ييزو هيوادونو رول حياتي دی، د دې په پام کې نيولو سره چې دوي د يوه داسې چاپيريال په رامنځ ته کولو کې مهمه مرسته کولی شي، کوم چې د سولې هڅو د تعقيبولو لپاره زمينه برابرولی شي. زه پر ټولو ښکيلو هيوادونو غږ کوم چې خپلې هڅې جاري وساتي. په دې برخه کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ رغنده اړيکې د ټولو له خوا منل شوي. زه غړي هيوادونه د داسې هڅو ملاتړ ته هڅوم، چې د حکومت او طالبانو ترمنځ د مستقيمو خبرو اترو لپاره زمينه برابره کړي.

۶۲. په افغانستان کې د سياسي پروسو د ملاتړ د دوامدار اهميت په ملاحظه کولو او د امنيتي وضعيت په څارلو سره، زه له امنيت شورا څخه د ۱۲ نورو مياشتو لپاره د يوناما ماموريت غځولو غوښتنه کوم، کوم چې د ۲۰۱۷ کال د مارچ پر ۱۷ پاي ته رسيږي. د دغې چارې په ترسره کولو کې، زه له افغانستان سره د ملګرو ملتونو د دوامدار مشارکت د ژمنې بيا يادونه کوم، څرنګه چې يې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په اړه د درې اړخيز کميسيون د بيا کتنې په نهايي راپور کې يادونه شوې او د ۲۰۱۵ په سپتمبر کې امنيت شورا ته وړاندې شوې. زه د هغې موثرې طريقې د کومې له لارې چې موجوده صلاحيت د ۲۰۱۶ په اوږدو کې ترسره شو، په ځانګړي ډول د بشري حقونو د مهمو موضوع ګانو او د مرستندويانو د همغږۍ او دغه راز څرنګه چې يې د حکومت له خوا غوښتنه شوې په لومړيتوب لرونکو برخو کې د ملي ادارو او ظرفيتونو د تقويه کولو لپاره د ملاتړ په اړه د ماموريت د ښه نيت کړنو او ښکيلتيا، يادونه کوم. زه پر غړو دولتونو غږ کوم چې په هيواد کې زموږ د ښکيلتيا او فعاليتونو د ساتلو لپاره اړين ملاتړ جاري وساتي.

۶۳. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکوونکو او د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استا زي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي د مشر تداميچي ياماموتو څخه تر ننګونو ډکو شرايطو لاندې د هغوي د دوامداره تعهد لپاره چې موخه يې د افغانانو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي، مننه کوم.

**ضمیمه***

د معیارونو په وړاندې ترسره شوی پرمختګ

**لومړی. امنیت**

**معیار: پایښت لرونکې افغان امنیتي اداري او د سولې او ثبات یقیني کولو او افغان وګړو د ساتنې وړ پروسې.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د توافق شوي جوړښت سره سم، د روزل شوي او عملیاتي افغان ملي پولیسو او ملي اردو پرسونلو زیات شوي شمیر | • د ۲۰۱۶ تر نومبر پورې، ۱۶۰۶۶۷ پرسونل په افغان ملي اردو او ۷۶۶۰ پرسونل په افغان هوایي ځواک کې خدمت کوي، چې ټولټال ۱۶۸۳۲۷ پرسونل اضافه کوي، چې د ۲۰۱۶ لپاره د نهایي هدف له شمیر څخه ۲۶۶۷۳ هغه کم دی. د ۲۰۱۶ تر نومبر پورې په دواړو افغان ملي اردو او افغان هوایي ځواک کې ۸۸۷ ښځینه پرسونلو دنده ترسره کوله. د ۲۰۱۶ تر نومبر پورې په افغان ملي پولیسو کې ۱۴۷۶۳۵ پرسونلو دنده ترسره کوله چې تر نهایي هدف څخه ۹۳۶۵ هغه کم دي. د ۲۰۱۶ تر نومبر پورې ۲۶۳۵ ښځینه پرسونلو په افغان ملي پولیسو کې خدمت ترسره کاوه.<br>• له راپورونو سره سم د افغان دفاعي او امنیتي ځواکونو واقعي ځواک د خیالي ځواکونو/پولیس افسرانو له امله د پورته شمیرو په پرتله ۲۰ سلنه کم دی.<br>• د ۲۰۱۶ په اوږدو کې، د ناټو د پریکنده ملاتړ ماموریت د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو روزنه، سلا مشورې او مرسته جاري ساتلې.<br>• په ۲۰۱۶ کال کې، د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت یوه پنځه کلنه نظامي ملي ستراتیژي جوړه کړه. دا د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پراخو اصلاحاتو وړاندوینه کوي. ملي نظامي ستراتیژي د ملي ستراتیژیک پلان جوړونې د افغان سیستم ملاتړ او تقویه کوي، کوم چې د خطر له ملي ارزونې، د امنیت نظامي پالیسي، د ملي امنیت ستراتیژي او د کمپاین له ملي پلان څخه تشکیل دی. |

**دویم. سوله، ادغام او پخلاینه**

**معیار: د سولې د مساعد سیاسي چاپېریال د تقویې لپاره د رغنده او ټوله شموله پروسې د تعقیب په موخه ملي ډیالوګ او سیمه ییزه ښکیلتیا**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د سولې، ادغام او پخلاینې هڅو د تقویې لپاره د ټول شموله ملي او سیمه ییزو پروسو طرح او تطبیق | • د ۲۰۱۶ د جنوري پر ۱۱، له افغانستان، چین، پاکستان او امریکا متحده ایالاتو څخه تشکیل د همکارۍ څلور اړخیز ګروپ سره د لومړي ځل لپاره په اسلام اباد کې وکتل څو د افغان سولې او پخلاینې پروسې په اړه خبرې اترې ترسره کړي. خواوو د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې او پخلاینې پروسې د تسهیل لپاره دوه اړخیزه هڅې تایید کړې، څو په افغانستان او سیمه کې پایېدونکې سوله او ثبات تر لاسه شي. د همکارۍ د څلور اړخیز ګروپ درې نورې ناستې هم ترسره شوې. |

* نوټ: دغه ضمیمه یوازې په انګلیسي ژبه خپره شوې

دغه ضمیمه له کومې رسمي ضمیمې پرته صادره شوې.

| | |
|---|---|
| | • د ۲۰۱۶ د سپتمبر پر ۲۱، د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د ۷۱ ناستې په څنډو کې افغانستان، هندوستان او د امریکا متحده ایالاتو د درې اړخیزه سلا مشورو ناسته ترسره کړه، په کومه کې چې دوي په سیمه کې د سولې او امنیت په رامنځ ته کولو او دغه راز له تروریزم سره په مبارزه کې د خپلو مشترکو ګټو یادونه وکړه.<br>د ۲۰۱۶ د سپتمبر پر ۲۲، د افغان دولت او حزب اسلامي ګلبدین ترمنځ د سولې تړون لاسلیک شو. د ۲۰۱۶ د نومبر پر ۶، افغان حکومت او د اسلامي حزب ګلبدین د سولې تړون د تطبیق لپاره ګډ اجرائي کمیسیون په رسمي ډول خپل کار پیل کړ.<br>• د ۲۰۱۶ د سپتمبر پر ۲۰، د حزب اسلامي ګلبدین پلاوي له ولسمشر غني سره وکتل چې د حزب اسلامي ګلبدین ډلې بندیانو خوشې کولو، د کډوالو د راستنیدلو او ځمکې د ویش په اړه خبرې اترې ترسره کړې. دوه ورځې وروسته د نوموړې ډلې پلاوي په پلچرخي محبس کې د دغې ډلې له بندیانو سره وکتل. د سولې تړون د تطبیق په اړه ټولې مسلې به د اجرائیه ګډ کمیسیون له لارې حل کیږي.<br>• په افغانستان کې د سولې او امنیت په اړه په ۲۰۱۶ کال کې د پګواش له خوا څلور ناستې ترسره شوې؛ د ۲۰۱۶ د جنوري له ۲۳ تر ۲۴ پورې د قطر په دوحه کې په افغانستان کې د سولې او امنیت په اړه؛ د ۲۰۱۶ د سپتمبر پر ۵، په کابل افغانستان کې په افغانستان کې د سولې په لور خوځښت په اړه؛ د ۲۰۱۶ د نومبر پر ۲۲ په اسلام اباد پاکستان کې د افغانستان- پاکستان اړیکو په او؛ د ۲۰۱۶ د ډسمبر پر ۱۳ په کابل افغانستان کې په افغانستان کې د سولې په اړه. |
| د امنیت شورا کمیټې ته چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په تعقیب تاسیس شوې، د تازه او کره معلوماتو د راغونډولو او وړاندې کولو زیاته شوې وړتیا | • په ۲۰۱۶ کال کې دولت د امنیت شورا کمیټې ته چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په تعقیب تاسیس شوې، د دوامدارو، تازه او کره معلوماتو برابرول جاري ساتلي.<br>• د ۲۰۱۶ د اکتوبر پر ۷، د تحلیلي ملاتړ او بندیزونو د څارنې ټیم د طالبانو او نورو اړوندو اشخاصو او ادارو اړوند چې د افغانستان سولې، ثبات او امنیت ته ګواښ جوړوي په تړاو د ۲۱۶۰ (۲۰۱۴) پریکړه لیک په تعقیب خپل اوم راپور وړاندې کړ. دغه راپور په عملي ډول د افغان چارواکو له خوا د راغونډ شویو او برابرو شویو معلوماتو پر بنسټ چمتو شوی.<br>• د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۱۳، افغان حکومت د ملګرو ملتونو د داعش او القاعده د بندیزونو له لست څخه د ګلبدین حکمتیار (QDi.088)د ایستلو غوښتنه وړاندې کړه، څو د حزب اسلامي ګلبدین سره د سولې له لاسلیک شوي تړون سره مرسته وشي. د فبروري پر ۳ نېټه ګلبدین حکمتیار له لست څخه وایستل شو. |
| د ټولنې په کچه او له مدني ټولنې سره د ښکیلتیا له لارې د سولې پروسې لپاره د خلکو زیات شوی ملاتړ | • د ۲۰۱۶ د جولائ پر ۲۰، د بغلان ولایت له ۱۵ ولسوالیو څخه خپلواکو عالمانو په سوله او پخلاینه کې د دیني علماؤو د رول په ملاتړ غونډه ترسره کړه. د ۱۵۰ علماؤو، او دغه راز د قومي استازو، د ولایتي شورا غړو، دولتي چارواکو او مدني ټولنې په ګډون شاوخوا ۲۲۵ وګړو په غونډه کې ګډون کړی و. د غونډې په پای کې یو ۱۰ نکته ییز پریکړه لیک چې د اسلامي اصولو پر بنسټ د سولې او پخلاینې لپاره د علماؤو بشپړ ملاتړ په ډاګه کوي، تصویب شو. له دغې غونډې سره د یوناما له خوا مرسته شوې وه. |

| | |
|---|---|
| | • د ۲۰۱۶ کال د اګست پر ۹، له بلخ، سرپل، جوزجان او سمنګانو ولایتونو څخه د ۱۱ ښځو په ګډون ۴۰ ځوان فعالین د سولې او پخلاینې په اړه په یوه سیمه ییز کنفرانس کې په مزار شریف کې سره راغونډ شول. کنفرانس یو پریکړه لیک تصویب کړ چې پر حکومت او نړیوالې ټولنې د سولې په پروسه کې د ځوانانو د شاملولو غږ کوي. له دغه کنفرانس سره د یوناما له خوا مرسته شوې وه.<br>• په ۲۰۱۶ کې، د سولې په اړه د افغان وګړو د ډیالوګ د رهبري کمیټې د یوناما په ملاتړ د سولې لپاره ۳۴ ولایتي لار نقشې (طرحې) نهایي کړې. له دغو لار نقشو ۱۷ هغه یې د کال په اوږدو کې د رهبري کمیټې له خوا تایید شول، او په ټول هیواد کې به د افغان مدني ټولنې د فعالینو له خوا د سوله جوړونې مدافعې او نوښتونو لپاره وکارول شي.<br>• د ۲۰۱۶ د سپټمبر او ډسمبر ترمنځ، یوناما د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره په ګډ کار کولو سره د هیواد په ټولو اتو زونونو کې ورکشاپونه ترسره کړي، چې هدف یې د سولې او پخلاینې په پروسو کې د سولې په ولایتي لار نقشو کې د ځای شویو سپارښتنو د تطبیق لپاره د هغوي د تقویه شوې مدافعې له لارې د مدني ټولنې د ظرفیت جوړول و.<br>• په ۲۰۱۶ کې، د یوناما ساحوي دفترونو د سولې ګڼ شمیر ځایي نوښتونه ترسره کړي، چې د افغانانو په مشرۍ د ولایت او ولسوالۍ په کچه د تسهیلونې، منځګړیتوب او پخلاینې هڅو د تقوېې لپاره د منځګړیتوب ملاتړ وړاندې کوي. په دغو چارو کې له علماؤو، قومي استازو، د ولایتي شورا غړو، د سولې د ولایتي شورا غړو، دولتي چارواکو، ځوانانو او د ښځو حقونو له فعالینو سره سلا مشورې، غونډې او جرګې شاملې دي.<br>• د ۲۰۱۶ د اکتوبر پر ۲۶، د ښځو، سولې او امنیت په اړه د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک په اړه د پرانستي ورځ کلنې مناسبات په کابل کې د "په افغانستان کې ښځې او تاوتریخجنه بنسټ پالنه" تر موضوع لاندې د ۱۲ نورو ورته ځایي مناسباتو سره د یوناما او د ملګرو ملتونو د ښځو د پروګرام له خوا په ټول هیواد کې ترسره شول. |

**درېیم. حکومتولي او د ادارو جوړونه:**

**معیار: په ځایي کچه د پالیسي ګانو د تطبیق ظرفیت او خپلو ځانونو د ساتلو له زیاتیدونکې وړتیا سره د ډیموکراتیکو، قانوني، او حساب ورکوونکو ادارو د جوړولو له لارې په ټولو هیواد کې د حکومت د واک پراخول.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د ښځو ګډون او په قانوني ډول ورکړل شوې ونډې په پام کې نیولو سره، د حقیقي او مهالنیو ټاکنو ترسره کولو لپاره د افغان چارواکو او | • د ۲۰۱۶ په جون کې، د مالیې وزارت د راتلونکو ټاکنو لپاره د حکومت له خوا د ۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو د تخصیص اراده اعلان کړه، له کومو چې ۲۱ میلیونه امریکایي ډالر د انتخاباتي کار کوونکو په ځیر د ملکي کارمندانو او ښوونکو ګمارل/اعزامول د جنس په بنه دي. |

| | |
|---|---|
| د خپلواکو ټاکنیزو ادارو زیاته شوې وړتیا | • د ۲۰۱۶ د سپتمبر پر ۲۵، د انتخاباتو قانون او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د جوړښت، دوندو او صلاحیتونو قانون یو ځای شوی نوی قانون په رسمي جریده کې خپور شو. دغه نوی قانون د یوه تقنیني فرمان له لارې تصویب او تر یوه بریده د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمیسیون سپارښتې رانغاړي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته دغه راز دنده سپارل شوې وه چې تر تاسیس وروسته د دریو میاشتو په دننه کې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د انتخاباتي حوزو په اړه تخنیکي څېړنه چمتو کړي.<br>• د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر کې، د افغانستان په اړه د بروکسل په کنفرانس کې، افغان دولت د حساب ورکوني د دوه اړخیزه چوکاټ د سپارل شویو شیانو له لارې د ځان بساینې په رابطه ژمنه کړې څو د د ولت د هغې ژمنې پر بنسټ چې موخه یې په ۲۰۱۷ کال کې د اړینو ټاکنیزو اصلاحاتو پلي کول دي د " باوري، ټولشموله او شفافو ټاکنو " په لور حرکت وکړي، او د ټاکنو لپاره چمتوالی ونیسي څو وکولای شي په ټاکنیزه پروسه او د ټاکنو په نهادونو اعتبار او باور زیات کړي.<br>• د ۲۰۱۶ کال د نومبر په ۲۲، ولسمشر غني د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د شکایتونو د کمیسیون لپاره د دریو ښځو په شمول ۱۲ نوي کمیشنران وټاکل. کمیشنران د سیاسي اشخاصو سره د سلامشورې او د انتخاب د یوې داسي پروسې له لارې چې د مدنې او نړیوالي ټولنې پر مخ پرانیستي وه، د ولسمشر غني، اجرائیه رییس عبداله عبداله او نورو شریکبانو له خوا د مرکو د ترسره کیدو وروسته وټاکل شول.<br>• د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۱۲، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رییس د ټاکلو په بهیر پیل وکړ. د جنوري په ۱۲، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ولسمشر ته په یوه لیک کې چې د اوو کمیشنرانو له جملې څخه یوائې د څلورو هغو له خوا لاسلیک شوی وه، د دریو نوماندانو وړاندیز وکړ. د جنوري په ۲۶، د اجرائیه رییس یوه ویاند په څرګند ډول وویل چې دا دری واړه نوماندان د زده کړو د نشتوالي او د پخوانیو کمیشنرانو سره د اړیکو د درلودلو له امله د منلو وړ نه دي.<br>• د ۲۰۱۶ کال په نومبر کې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رای ورکونکو د راجستر کولو د انتخاب په اړه ابتدایي خبري اترې پیل کړې، او د هغو بستو په چمتو کولو یې پیل وکړ چې موخه یې د رای ورکولو د مرکزونو ارزونه او بیا اختصاص و.<br>• د ۲۰۱۶ کال په ډسمبر کې، ولسمشر غني د ټاکنیزو پولو د محدودیتونو په اړه چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون هم پکې شامل و د څو ادارو تخنیکي کمیټه جوړه کړه.<br>• د ۲۰۱۶ کال د اپریل په نهمه، ولسمشر غني د راتلونکو ټاکنو لپاره د ملګرو ملتونو څخه د دوامداره ټاکنیزو مرستو غوښتنه وکړه. د دې په غبرګون کې، د ۲۰۱۶ کال د می د میاشتې د ۱۱ نیټې څخه د می تر ۱۹ نیټې پورې، په هیواد کې د اړتیاوو د ارزونې ماموریت را منځ ته شو، او د اتخاذ په هدف یې د مهمو پریکړو وړاندیز وکړ. د ټاکنو د نوې قانون په تصویب او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د شکایتونو د کمیسیون په را منځ ته کیدو سره، یوې څېړنې د ۲۱۰۷ کال په جنوري کې د اړتیاوو د ارزونې ماموریت ته تازه معلوات |

وړاندي کړل. د ۲۰۱۷ کال د جنوري د ۱۰ نيټې څخه د جنوري تر ۲۷ نيټې پورې، د يوې پروژې د جوړولو لپاره د خبرو اترو د پيل په هدف يو ټيم را منځ ته شو څو ټاکنيز ملاتړ برابر کړي او د ملاتړ د ريښتينو ساحو تصديق وکړي. د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام د يوې نسبي پروژې د پيلولو د پلان له لارې د لا جامع ملاتړ په لور د يوه نښلونکې پله په حيث چې بنسټ يې پر غوښتنو ولاړ وي، د تخنيکي مرستو برابرولو ته دوام ورکوي.

د څارنې او ارزونې د کميټې تاسيس او د فساد پر وړاندې د معيارونو پراختيا

- د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې د ګډې خپلواکې کميټې د نظارت د رول د پياوړتيا په هدف د حکومت د ژمنتيا په دوام کې، د ولسمشر ۱۱۵ ګڼې فرمان د څارنې او ارزونې کميټه د يوې خپلواکې ادارې په توګه اعلان کړه او ټولې دولتي اداري يې په دې مکلفې کړې څو د څارنې او ارزونې د کميټې سپارښتنې او د هغوی د پلې کولو په اړه په منظمه توګه راپورونه ورکړي. د څارنې او ارزونې کميټه همدارنګه د (۲۰۱۶-۲۰۱۸) کلونو لپاره يوه نوې ستراتيژي خپره کړه څو د اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د اصلاحاتو د پلي کولو په برخه کې د دولتي ادارو سره په فعاله توګه کار وکړي.
- د څارنې او ارزونې کميټې دوه ځانګړي راپورونه خپاره کړل چې، لومړی يې د عامې روغتيا په وزارت کې د فساد پر وړاندې د زيانمنې په اړه تمرکز کوي او دوهم راپور د تيلو او ګازو رسولو او وارداتو په برخه کې د اداري فساد د زيانمنې په اړه بحث کوي.
- د څارنې او ارزونې کميټې خپل لسم شپږ مياشتنی راپور هم خپور کړ چې د ۲۰۱۶ کال د جنوري څخه تر جولای پورې موده رانغاړي. دا راپور د نورو شيانو تر څنګ، د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو د وزارت لخوا د متقاعدينو د تقاعد د تادياتو او امتيازاتو په برخه کې د پرمختګ؛ او د تدارکاتو د قانون سره سم د تدارکاتو د بياکتنې او استيناف کميټې د تاسيس په اړه بحث کوي.
- د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر تر ۳۱ پورې، له ۲۰۱۰ راهيسې، د څارنې او ارزونې د کميټې د ۶۰۱ سپارښتنو له جملې څخه ، ۲۰۱ هغه يې په بشپړه توګه پلې شوي، ۱۹۶ هغه يې په نسبي توګه تطبيق شوي، او ۲۳ هغه يې مناسبې نه وي او ۱۸۱ به يې پلې شي.

د اداري فساد پر وړاندې د ادارو پياوړتيا څو د اداري فساد پر وړاندې د حکومت د بشپړ روش نظارت وکړي

- د افغانستان د استخراجي صنايعو د شفافيت نوښت (AEITI) د ۲۰۱۶ کال په فبروري کې د پخلاينې خپل څلورم راپور خپور کړ، چې دا د ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې د تيلو، ګازو، او معدني صنعت په برخه کې د دولت عايدات رانغاړي او په اوس حال کې د خپل پنځم راپور په چمتو کولو کار کوي. د افغانستان د استخراجي صنايعو د شفافيت نوښت د استخراجي صنايعو د نوښت په برخه کې چې يو نړيوال معيار دی او موخه يې د تيلو، ګازو، او منرالي سرچينو د پرانيستې او احتساب وړ مديريت وده ده د افغانستان د غړيتوب لپاره د اړتياوو سره په سمون کې د افغاستان د اجابت مسوولیت لري.
- د دولت د مخ پر زياتيدونکو هڅو د يوې برخې په حيث چې موخه يې د دوه اړخيزه حسابورکونې د چوکاټ (SMAF) د ژمنو له لارې د اداري فساد پر وړاندې د اجنډا او ځان بسياينې پلې کول دي ، د عايداتو د را منځ ته کولو د پنځو وزارتونو (لکه د ماليې وزارت؛ د کانونو او پټروليم وزارت؛ د سوداګرۍ او صنايعو وزارت؛ د ټرانسپورټ او ملکي هوايي چلند وزارت؛ او د مخابراتو او معلوماتي

ټکنالوجۍ وزارت) د اداري فساد پر وړاندې پلانونه جوړ شوې او د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر کې د بیا کتنې په موخه کابینې ته سپارل شوې.

- د ۲۰۱۶ کال په سپتمبر میاشت کې، د قانون د حاکمیت او د اداري فساد پر وړاندې د عالي شورا دارالانشاء د اداري فساد پر ضد د ملي ستراتیژۍ د مسودې د جوړولو په اړه د اړوندو شریکانو سره سلا مشورې پیل کړې. وروسته بیا، د ولسمشر دفتر د اداري فساد پر ضد د ملي ستراتیژۍ د جوړولو په اړه د سلامشورو چارې سمبال کړې. د دې لپاره چې د اداري فساد پر وړاندې د دولت مبارزه پر مخ یووړل شي، یوناما د نړیوالي ټولنې سره یو ځای د اداري فساد پر ضد د شریکانو د کاري ډلې لپاره اسانتیاووې برابري کړې څو اړوندې دولتي اداري راونغاړي، په ځانګړې توګه د اداري فساد پر وړاندې د بروکسل او لندن په مخکنیو نړیوالو کنفرانسونو کې، د اداري فساد پر وړاندې د دولت د ژمنو په اړه د تعقیب په موخه د دارالانشاء عالي شورا او همدارنګه مدني ټولنه.
- یوناما همدارنګه د نړیوالې ټولنې د قوي موقف او په دې ساحه کې د دولت سره د همغږۍ ملاتړ په موخه د اداري فساد سره د مبارزې د کاري ډلې د غونډو لپاره اسانتیاووې برابرې کړې.

د دوه اړخیزه حساب ورکونې د چوکاټ سپارل شوې شیان د دولت او مدني ټولنې تر منځ د یوه تفاهم لیک غوښتنه کوي کوم چې د ۲۰۱۵ کال په پای کې لاسلیک شو. که څه هم په ۲۰۱۶ کال کې د تفاهم لیک لاندې محدود فعالیتونه ترسره شوې، د تفاهم لیک شتون په خپله د افغانستان لپاره یو مهم عامل دی او په دې سره افغانستان د ۲۰۱۶ کال په ډسمبر کې وتوانید تر څو د پرانیستي حکومت غړیتوب ترلاسه کړي. د ۲۰۱۶ کال په مې میاشت کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د لندن په کنفرانس کې، افغانستان ژمنه وکړه څو اطلاعاتو ته لاسرسی زیات کړي او د مدني ټولنې د مشارکت ملاتړ وکړي. یوناما د پرانیستي حکومت د شراکت د ژمنو د پلي کولو په برخه کې د حکومت د لا زیاتو اقداماتو په اړه د ولسمشر د چارو د اداري سره د اړیکو ټینګولو چارو ته دوام ورکړی، په خاص ډول، په یاد بهیر کې د مدني ټولنې د ګډون په موخه د لازم ملاتړ برابرول.

- افغانستان د شفافیت د نړیوال سازمان د ۲۰۱۶ کال لپاره د اداري فساد پر وړاندې د انګیرنې په شاخص کې په خپله درجه کې ښه والی راوستی، په نمره بندي کې (د ۱۱ څخه ۱۵ ته) د څلور پوانټونو په زیاتوالي سره، ۱۶۹ ځای خپل کړی. حکومت دا کړنه د اداري فساد پرضد د ادارو جوړولو ته منسوب کوي.
- د ۲۰۱۶ کال په اوړدو کې، دولت او قضایي ارګانونو د ملي واکمني په درلودلو سره د اداري فساد پر وړاندې عدلي مرکز طرح، تاسیس، جوړ او فعال کړ چې وار له مخه یې د اداري فساد پرضد اوه قضیې تعقیب کړې او په رسمی توګه د لوړې کچې په لسګونو قضیو باندې تحقیقات کوي.

د عامه چارواکو د شتمنیو د اعلان کلنۍ خپرونه

- د دوه اړخیزه احتساب د چوکاټ له لارې د ځان بسیا کولو په برخه کې د ژمنو سره په سمون کې، نهو لوړ رتبه دولتي چارواکو، د ولسمشر او اجراییوي رییس په شمول، د کابینې ۲۵ وزیرانو، او ۲۶ والیانو خپلې شتمنۍ د نظارت او اداري فساد پر وړاندې د عالي دفتر سره راجستر کړې. د شتمنیو تایید او د هغو خپریدل لا تر اوسه ندي پیل شوې.

| | |
|---|---|
| په مرکزي، ولایتي او د ولسوالیو په کچه په ملکي برخو کې د ملکي کارکوونکو د ظرفیت لوړول څو دندې پر مخ بوزي او خدمتونه وړاندې کړي | • د ۲۰۱۶ کال د می په ۴، د نظارت او اداري فساد پر وړاندې عالي دفتر د هغو عامه چارواکو پر وړاندې د سختو بندیزونه سپارښتنه کړې چا چې خپلې شتمنۍ نه دي راجستر کړې. د دغې سپارښتنې له امله ۱۵ والیان د دې لپاره چې نه دي توانیدلي خپلې شتمنۍ راجستر کړي، له دندو ګوښه شوي. د نظارت او اداري فساد پر وړاندې د عالي دفتر سپارښتنه نه منل شوې او نه هم پلي شوې.<br>• د عامه خدمتونو په برخه کې د خدمتونو د وړاندې کولو د کیفیت د ښه کولو په یوه هڅه کې، د ملکي خدمتونو انستیټیوټ د کمپیوټر د زده کړو ، انګلیسي، د بشري منابعو د مدیریت، او اداري / مالي مدیریت په برخه کې ۲۵۷۲ ملکي کارکوونکي وروزل. د روزل شویو کارکوونکو شمېر د ۲۸۷۹ د هدف وړ شمېر ۸۹ سلنه څرګندوي. د ۲۵۷۲ روزونکو له جملې څخه، ۱۴۸۸ د مرکز څخه او ۱۰۸۴ د ولایتي ادارو څخه وو. ښځې د ګډون کوونکو ۳۰ سلنه څرګندوي.<br>• په ۲۰۱۶ کې، د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري څخه ۱۰۶ کارکوونکو په هند کې د ظرفیت د لوړولو په بیلابیلو روزنو کې برخه اخیستې. دا روزنې د هغه تفاهم لیک په رڼا کې چې د هندوستان د حکومت او سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې تر منځ لاسلیک شوی د هندوستان د حکومت د ملکي خدمتونو د ادارې لخوا تنظیم شوې. |
| مخ پر زیاتیدونکي روڼوالی او د ملکي خدمتونو د ګمارنو موثریت | • د وړتیا پر بنسټ د ملکي خدمتونو د استخدام څخه د ډاډ حاصلولو په خاطر د حکومت د هڅو د یوې برخې په حیث، ټولې نوي ګمارنې د وړتیا پر بنسټ د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري تر رهبري لاندې د یوې پروسې له لارې ټاکل شوې، په دې سره د وړتیا پر بنسټ د ۳۸۳ ولسوالانو له جملې څخه د ټولو ګمارنو شمېر ۵۳ (۱۴ سلنه)، د ۳۴ والیانو له جملې څخه ۵ (۱۵) ده. د دې سربیره، د ۱۶۵ ښاروالانو له جملې څخه ۲۰ هغه یې (۱۲ سلنه) د سیالۍ د پروسې له لارې د ولسمشر او د سیمه ییزو ارګانو د اداري تر رهبري لاندې ټاکل شوې. |
| د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو پیاوړتیا چې ملاتړ یې د ظرفیت جوړونې او د تمویل کونکو د وجهي تخنیکي مرستې د یوه جامع روش له خوا کیږي | • د ۲۰۱۶ کال د اګست په ۹، ولسمشر د ستراتیژیکو او عامه اړیکو په اړه خپل لوړ پوړی سلاکار د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون د نوي رییس په توګه وټاکه. که څه هم چې، هغه و نه توانید خپله کرسۍ احراز کړي، په دې سره د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د اساسي رهبري څخه بې برخې پاته شو. د دې تشې د ځوابولو په موخه، ولسمشر د چارو د اداري مرستیال په دنده وګمارو تر څو د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون عملیاتي چارې پر مخ بوزي.<br>• د دې په خاطر چې د ملکي خدمتونو قانون کوم چې په ۲۰۱۵ کال کې جوړ شوی، بیا وکتل شي، د ښکیلو اوږدمهاله بیوروکراتیکو بهیرونو له امله بیا کتنه دوام لري. دوو پرمختګونو د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو او ظرفبیت جوړونې د تطبیق چارې په منفي توګه اغیزمنې کړې دي. |
| د سیمه ایزې حکومتدارۍ پالیسۍ پلي کول او د سیمه ایزو تنظیماتو، مالیاتي او بودجې چوکاټونو پراختیا | • د احتساب د دوه اخیزه چوکاټ له لارې د ځان بسیاینې په برخه کې د ژمنو سره په سمون کې، د ۲۰۱۶ کال په جنوري کې، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې اداري د یوناما په مرسته د سیمه ییزې حکومتولۍ د بیا کتل شوې مسودې په اړه د مرکزي او سیمه ییزو ادارو او مدني ټولنې سره سلا مشورې پیل کړې. په پای کې، د ټولو |

| | |
|---|---|
| | ۳۴ ولایتي ادارو، انتخاب شویو وزارتونو او همدارازد مدني ټولنې د شبکو څخه تبصرې ترلاسه او ثبت شوې. د پروسې په پای کې، تمویل کونکو د پالیسې د مسودې په اړه بشپړې شوې تبصرې برابري کړې. د پالیسې مسوده په اوس حال کې د کابینې بیاکتنې ته انتظار باسي. د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د مشرتابه په څنډ ټاکنې یوه تشه را منځ ته کړه او دې په لوړه سیاسي کچه اغیزه د پالیسۍ تصویب او خبرې اترې اغیزمنې کړې. |
| | • د کلنې ولایتي پلان جوړولو لارښودونه جوړ شوې. د هغوی دنده دا ده چې د پلان جوړولو په بهیرونو کې د ولایتي چارواکو لپاره مسیر پیدا کړي. |
| | • د محلي ادارې قانون تعدیل شوی او د ولسي جرګې ته سپارل شوی. دا پروسه د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکې ادارې او د ولسمشر د دفتر لخوا تمویل او په تخنیکي لحاظ د عدلیې وزارت لخوا رهبري کیږي. دا قانون، چې کله تصویب شو، دا به د ولایتي ریاستونو، ولسوالیو د دفترونو او ښاروالیو په ګډون د محلي حکومتولۍ د اداري واحدونو اړوندې چارې تنظیم کړي. |
| | • په ۲۰۱۶ کال کې، د ښاروالیو د قانون مسوده د ولسمشر د دفتر، د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې، عدلیې وزارت، کابل ښاروالۍ او نورو شریکبانو تر منځ په دوامداره توګه د بیا کتنې په پروسه کې ده. د قانون د مسودې د نهایي کولو لپاره لا تر اوسه کوم زماني چوکاټ نه دی تعیین شوی. د دې سربیره، د ښاروالۍ د پوهاوي چوکاټ او د ښاروالۍ د مشورې د هیئت لارښودونه چمتو او تصویب شوې او د جامدو زبالو د مدیریت لارښودونه چمتو او پلې شوې. |
| د اداري پولو لپاره د معیارونو پراختیا او خپرول | • ملي او نړیوالې موسسې د ۲۰۰۹ کال د داخلي پولو د ډاټا مجموعه، لکه څنګه چې د محلي حکومتدارۍ د خپلواک ریاست او د جیوډیزي او کارتوګرافي د عالي دفتر لخوا تسریح شوې، په دوامداره توګه کاروي. |
| د کارنده دولتي ادارو لپاره د مناسبو زیربناوو را منځ ته کول ، په ځانګړې توګه په سیمه ییزه کچه | • د وګړو د خدمتونو مرکزونه د (بامیان، دایکندي، پکتیا او پنجشیر) په څلورو ولایتونو کې جوړ شوې.<br>• د والیانو ۱۳ ولایتي دفترونه په انټرنټ سره سمبال شوي څو په یادو دفترونو کې د آی ټي مدیریت سیستمونو ښه کړي.<br>• د خپلو حوزو سره د اړیکو ټینګولو په خاطر ۱۱ ښاروالۍ په انټرنیت سمبالې شوې. |
| د باور وړ او لاس رسی وړ عدلي او جزایي سیستمونو تاسیسول چې د ټولو اتباعو بشري حقونو ته درناوی وکړي او د هغو ساتنه کوي | • د اداري فساد پر وړاندې ملي عدلي مرکز جوړ او د ۲۰۱۶ کال د جون راهیسې فعال دی. د اداري فساد پر وړاندې ملي عدلي مرکز تر اوسه شپږ محاکمې ترسره کړې، چې په نتیجه کې یې ۱۶ کسان ، د هغو کسانو په شمول چې په بانکي اختلاس، او د ځمکې په غصب کې ښکیل وو ، او همدارازد بانک کارمندان، یو لوړ پوړی څارنوال او د کورنیو چارو په وزارت کې یو جنرال په بند محکوم شوې. د اداري فساد پر وړاندې د سنګینو تورونو په اړه په شفافه توګه محاکمې د خلکو پر مخ پرانیستې وې. د شپږو محاکمو له جملې څخه دری هغه یې د اداري فساد پر وړاندې د ملي عدلي مرکز پر وړاندې د استناف په اړه تایید شوې. په راتلونکو قضیو کې د کورنیو چارو وزارت دوه لوړ رتبه جنرالان او د ښاري پراختیا د وزارت مرستیال شامل دي. په اوس حال کې په لسګونو نورې قضیې د |

اداري فساد پر وړاندي د ملي عدلي مرکز د رسمي څارنوال مخ ته د ځېړنو په موخه پرتي دي.

- د افغانستان د مدافع وکیلانو خپلواکې ټولنې په افغانستان کې ۲۶۷۷ مدافع وکیلان ثبت کړي، چې له هغې جملې څخه ۷۱۲ هغه یې ښځینه دي.
- د ۲۰۱۶ کال د اپریل په ۱۸، د مرکزي محبس د ریاست د غوښتنې پلې کول، یوناما د ۳۴ ولایتونو د توقیف خونو له جملې څخه په ۳۱ هغو کې د زندانونو د روغتیایي خدمتونو په اړه یوه جامع بیا کتنه خپره کړه ترڅو د منډیلا د ملګرو ملتونو د درملنې د کم تر کمه نړیوالو معیارونو سره اجابت و ارزوي. د راپور په پایله کې راغې چې په یو شمیر کلیدي ساحو کې پر مختګ شوی مګر د پام وړ کار ته اړتیا لیدله کیږي. د عامې روغتیا د وزارت سره د یوې وروستۍ موافقې په تعقیب، محبوسین په نږدې ټولو ولایتي بندیخانو کې یا خو د کورنیو چارو د وزارت د بندیخانو د کلینیکونو او یا د عامې روغتیا د وزارت د زندانونو د ملکي کلینیکونو د ارجاع له لارې اساسي صحي خدمتونو ته وړیا لاس رسۍ لري. یوناما د ملي او نړیوالو شریکباڼو سره په دوامداره توګه کار کوي ترڅو د راپور عملي وړاندیزونه پلي کړي.
- د جزا نوی بیا کتل شوی یا تعدیل شوی قانون د دوه اړخیزه احتساب د چوکاټ له لارې د ځان بسیا کولو په برخه کې د ژمنو سره سم ترتیب شوی. د قانون مسوده چې باید د پارلمان لخوا تر غور لاندي ونیوله شي، د ۵۰ څخه په زیاتو ځانګړو قوانینو کې جرمونه شاملوي؛ او اوس د اداري فساد په وړاندې د ملګرو ملتونو د کنوانسیون ، د شکنجې پر وړاندې د کنوانسیون او د ملګرو ملتونو د انتقالي تنظیم شویو جرمونو د کنوانسیون، او همدارنګه د عصري غوره تمرینونو د کنوانسیون سره سمون لري. د جزا د قانون نوې مسوده د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي جرمونه تعریفوي؛ او د روم د قانون سره سم د بشریت، جنګي جرمونو او نسل وژني جرمونه احتوا کوي.
- ستره محکمه او د لوی څارنوالۍ دفتر په خپلو ادارو کې د اداري فساد سره مبارزه کوي. دواړو ادارو، ستراتیژۍ ګانې او کاري پلانونه ترتیب کړي تر څو د ولسمشر د دویم مرستیال د لارښوونې او د قانون د حاکمیت د عدلي کمیټې د عالي شورا د کمیټې تر لارښوونې لاندې د فساد سره مبارزه وکړي.
- د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۲۳ ، یوناما د شخړو د حل د رسمي او غیر رسمي میکانیزمونو لومړنۍ جامع ارزونه خپره کړه، چې موخه یې د اوبو لګولو د لاسرسی پر سر د لوړې کچې د اختلافاتو حل کول دي. د راپور کلیدي موندنه دا ده چې پداسې حال کې چې په وروستیو کې د اوبو نافذ شوی قانون یو جامع تنظیم شوی پروګرام چمتو کوي، د اوبو کاروونکي په دودیز ډول په سیمه ییزو "اوبو مالکانو" باندې تکیه کوي ترڅو په دودیز ډول شخړې حل کړي. راپور اړوندو مسؤل افغان وزارتونو ته وړاندې شوی، چې د دې راپور د سپارښتنو د پلي کولو په برخه کې اوس د یوناما لخوا ورسره مرسته کیږي.
- د ۲۰۱۶ کال د نومبر په ۴، د عدلي د وزارت د مستقیمې غوښتنې وروسته، یوناما د افغانستان د ژڅکیو د اصلاح مرکزونو په اړه یوه جامع ارزونه خپره کړه، څو د ژڅکیو سره د چلند په موخه څوک

| مقیاسونه | د پرمختګ شاخصونه |
|---|---|
| چې د خپلو ازادیو څخه محروم دي، د ملګرو ملتونو د نړیوالو معیارونو سره اجابت وازروي. دې راپور په داسې حال کې چې د ځوانو افغانانو لپاره په توقیف ځایونو کې د ښوونې او روزنې او له احیا کیدو څخه وروسته د معالجې حیاتي اړتیا تشریح کوي او د هغوي سره د ټولنې سره د بیا یو ځای کیدو په چارو کې مرسته وکړي، د افغانستان د ژنکیو په اصلاح مرکزونو کې مثبت رجحانات موندلي. د بیا رغونې د استوګنځایونو د ښه والي لپاره دوامداره نړیوال ملاتړ ته اړتیا ده، په ځانګړې توګه د ژنکیو په اصلاح مرکزونو کوم چې په دودیز ډول نه و جوړ شوې او د هدف لپاره مناسب وو. یوناما اوس په دې راپور کې د ځای شویو وړاندیزونو د پلي کولو په برخه کې د وزارت سره مرسته کوي. | |

**ځلورم. بشري حقونه**

**معیار: د افغانستان د اساسي قانون او نړیوالو قوانینو سره سم د افغانانو بشري حقونو ته درناوی ښه شوی، په خاص تاکید سره، د ملکي وګړو ساتنه، د ښځو او نجونو وضعیت، د بیان آزادي، احتساب چې بنسټ یې د قانون پر حاکمیت ولاړ وي**

| *مقیاسونه* | *د پرمختګ شاخصونه* |
|---|---|
| • د ۲۰۱۶ کال د جنوري د لومړۍ او د ډسمبر د ۳۱ تر منځ، یوناما ټولټال ۱۱۴۱۸ ملکي تلفات (۳۴۹۸ مړینې او ۷۹۲۰ ژوبلې) مستند کړې. که څه هم چې په ۲۰۱۶ کال کې د ملکي مړینو کچه دوه سلنه را ټیټه شوې خو ملکي ژوبلې شپږ سلنه لوړې شوې. د ۲۰۱۵ کال په پرتله ټولیز ملکي تلفات درې سلنه لوړ شوي. په ۲۰۱۶ کال کې د هغو پیښو په شمیر کې چې په نتیجه کې یې ملکي تلفات را منځ ته شوې ۱۲ سلنه لوړ شوې. یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۶۱ سلنه دولت ضد عناصرو، ۲۴ سلنه دولت پلوه ځواکونو (۲۰ سلنه افغان امنیتي ځواکونو، ۲ سلنه نړیوالو پوځي ځواکونو او دوه سلنه دولت پلوه وسله والو ډلو) ته منسوب کړې. د ټولو ملکي تلفاتو ۱۰ سلنه د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د ډزو د تبادلې په نتیجه کې را منځ ته شوې، نو ځکه نه شي کیدای دا تلفات کومې خاصې ډلې ته منسوب کړي. د ملکي تلفاتو پنځه سلنه د جګړې څخه د نا منسوب شویو پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله را منځ ته شوې. د دولت پلوه او دولت ضد عناصرو تر منځ ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو مخکښه لامل پاته شوی چې په نتیجه کې یې ۴۲۹۵ ملکي تلفات(۱۰۷۰ مړینې او ۳۲۲۵ ژوبلې) را منځ ته شوي، او په دې پسې بیا تبعیه شوې چاودیدونکې توکې راځي چې ټولټال ۲۱۵۶ ملکي تلفات(۷۰۰ مړینې او ۱۴۵۶ ژوبلې) اړولي.<br>• شخړو په ۲۰۱۶ کال کې تر ډیره بریده افغان ماشومان اغیزمن کړي، د یوناما له خوا د ماشومانو د ټولټال ۳۵۱۲ تلفاتو (۹۲۳ مړینو او ۲۵۸۹ ژوبلو) په ثبتولو سره، دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی دی ، او د ۲۰۰۹ کال راهیسې په یوه کال کې د یوناما له خوا د ماشومانو تر ټولو زیات ثبت شوې تلفات دي. په ۲۰۱۶ کال کې په ټول هیواد کې د ماشومانو د تلفاتو په برخه کې دغه بې | د نړیوالو قوانینو سره د اړوندو فعالینو د تعقیبولو له لارې، د ملکي خلکو په وړاندې د ځواک د نا قانونه کارونې او ویرولو د پیښو په شمیر کې کمښت |

| | |
|---|---|
| | تناسبه لوړوالی تر دیره بریده د ملکي تلفاتو په برخه کې د ۶۵ سلنې زیاتوالي له امله د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو د کارولو په نتیجه کې را منځ ته شوی- او زیاتره تلفات یې ماشومان وو.<br>• د یوناما د غوښتنې پر اساس، د ملکي تلفاتو د مخنیوي او راکمولو بورډ، د ۲۰۱۶ کال د جنوري په ۲۶ له نړیوالو پوځې ځواکونو څخه افغان چارواکو ته لیږدول شوی. په اوس حال کې دا بورډ د ملکي تلفاتو د راکمولو د هڅو د ښه کولو لپاره د ساحو د پیژندلو لپاره د یوه تمرکز شوې میکانیزم په حیث کار کوي. د ملکي تلفاتو د مخنیوي او راکمولو بورډ د ملکي تلفاتو د مخنیوي او راکمولو ملي پالسې جوړه کړه چې بیا د مرستیال وزیرانو په کچه تصویب شوه او وروسته یې د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په دوهمه نیټه یوه کاري ډله را منځ ته کړه څو د پالیسې د تطبیق لپاره د عمل پلان جوړ کړي. د ۲۰۱۶ کال د نومبر په ۱۵ د بورډ په ربع واره ناسته کې، د ملکي تلفاتو د مخنیوي او راکمولو بورډ د ملکي تلفاتو د مخنیوي او راکمولو پالیسې چې کله د ملي امنیت شورا له خوا تصویب شي، د پلي کولو لپاره د اړوندو وزارتونو له خوا د پلان جوړولو په اړه خبرې متمرکزې کړې.<br>• حکومت د خوندیتوب د لوړې کچې یوه کاري ډله تاسیس کړه او خپله لومړنۍ ناسته یې د ۲۰۱۶ کال د جون په ۳۰ ترسره کړه څو د ملکیانو د ساتنې په اړه د موجوده اندیښنو او بهتر شویو فعالیتونو د پلي کولو په برخه کې د ملاتړ په اړه چې وکولای شي د ملکي تلفاتو کچه راټیټه کړي، د پالیسي د پرمخ وړلو لپاره اسانتیاوې برابرې کړي.<br>• په ۲۰۱۶ کال کې، دفاع وزارت د دولت ضد عناصرو پر وړاندې د عملیاتو په جریان کې ملکیانو ته د زیان اوښتو څخه د مخنیوي په خاطر د ښکیلتیا قواعد چمتو کړي.<br>• د ۲۰۱۶ کال لپاره د هغوي په کلني راپور کې، طالبانو د ۲۰۱۶ کال د جنوري او ډسمبر د میاشتو تر منځ د ټولټال ۵۲۳۲ ملکي تلفاتو د مستند کولو ادعا کړې، چې د دغو له جملې څخه امریکایانو او د کابل لاسپوڅې اداري ۷۱ سلنه تلفات(۳۸۳۶ مړینې او ۱۵۰۴ ژوبلې)، داعش/عراق او شام دولت-خراسان ولایت، نا پیژاندو وسله والو او سیمه ییزو جنګیالیو ۱۷ سلنه تلفات (۱۱۲۷ ملکي تلفات- ۳۸۰ مړینې او ۷۴۷ ژوبلې) ، او طالبانو ۱۲ سلنه تلفات، یعني ۲۴۹ ملکي تلفات (۱۲۰ مړینې او ۱۴۹ ژوبلې) را منځ ته کړي. په ۲۰۱۶ کال کې، طالبانو هم د خپل پوځې جوړښت لاندې د ملکي تلفاتو کمیټه را منځ ته کړه څو د ملکي تلفاتو هغه پیښې په کومو کې چې د هغوي جنګیالي ښکیل دي، وڅیړي. |
| د هغوي د حقونو په اړه د افغانانو د حقونو او د حکومت له خوا د خپلو ژمنو په اړه ښه شوی پوهاوی | • که څه هم چې حکومت په ۲۰۱۶ کې د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د ۲۰۱۵ کال په خپل ملي پلان کې د ځای شویو ژمنو د پوره کولو په برخه کې د پام وړ کم پر مختګ کړی، دولت د ۲۰۱۷ کال د مۍ تر پایه د یوه نوې زماني چوکاټ په تعینولو سره د شکنجې د مخنیوي په اړه د اختیاری پروتوکول د تایید په موخه خپلې ژمنه له سره تازه کړه.<br>• د ۲۰۱۶ کال په مۍ کې، ملي اسامبلې د ولسمشر د ۷۶ شمیرې تقنیني فرمان په اړه چې په ۲۰۱۵ کال کې خپور شو، کړنې ترسره کړې. دې، ۱۰ ماده، چې د توقیف یو مخه نیونکی تدبیر دي د ملي |

| | |
|---|---|
| | امنیت ریاست ته د دې اجازه ورکوي څو د سترې محکمې څخه غوښتنه وکړي چې یو شخص د ملي امنیت په تړاو د جرم د ترسره کولو په خاطر د یوه کال لپاره په بند کې وساتي، رد کړه. اسمبلۍ د فرمان پاتې برخې تایید کړې، په دې توګه د جزایي اجرااتو د قانون تعدیل ساتي کوم چې د ملي امنیت د چارواکو لخوا تر لسو ورځو پورې د اوږدو توقیفونو اجازه ورکوي. دا فرمان څارنوال ته هم واک ورکوي چې توقیف د ۱۵ څخه تر ۶۰ ورځو پورې وغزوي. په دې توګه، د قاضیانو بیا کتنې او حکم ته تر ۷۰ ورځو پورې د تایید اړتیا نشته، دا د افغانستان د اساسي قانون او د مدني او سیاسي حقوقو د نړیوال تړون د نهمې مادې څخه سرغړونه ده چې افغانستان یې غړیتوب لري.<br>• د ۲۰۱۶ کال په خپل نومبر میاشت راپور کې "په افغانستان کې د لمړني ازموینې د فعالیتونو" په اړه، د نړیوالې جنایي محکمې د څارنوال دفتر پریکړه کړې چې، داسې یو "مناسب بنسټ شتون لري تر څو باور وشي چې له ۲۰۰۳ راهیسې، د افغان دولتي ځواکونو ، په تیره بیا د استخباراتي ادارې (د ملي امنیت ریاست)، د افغان ملي پولیسو له خوا د شکنجې جنګي جرمونه او اړوند نا سم چلند ترسره شوی. د بشپړولو د اصولو پر بنسټ د دغو قضیو په اړه د خپل واک د ارزولو په برخه کې، محکمې د ۲۰۰۸ کال څخه را پدېخوا د څارنوال څخه د معلوماتو لپاره د متعددو غوښتنو په غبرګون کې د حکومت د ناکامۍ یادونه کړې. |
| د ښځو او نجونو په وړاندې د مبارزې په موخه د اغیزو، او ملاتړ لپاره، قانوني او د پالیسۍ اقدامات | • د ۲۰۱۶ کال د جنوري په ۳۱، ولسمشر د ښځینه ژغورل شویو لپاره د چا ژوند ته چې د خشونت له امله ګواښونه پیښ دي د بیړنیو خدمتونو یو وقف شوی وجهي صندوق پرانیست، په دې کې د بیلګې په توګه، طبي درملنه او موقت استوګنځاي شامل دي.<br>• د دغو خدمتونو ریښتنۍ فعالیت د نا کافي مالي مرستو له امله تر دې دمه محدود پاته شوی.<br>• د ۲۰۱۶ کال د جون په ۱۱، حکومت د ۲۰۱۶-۲۰۲۰ کلونو لپاره د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په اړه ستراتیژې او ملي پلان تصویب کړ، کوم چې د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په پنځمه په عامه توګه پیل شو.<br>• د افغان ملي‌پولیسو په لیکو کې د استخدام شویو ښځو لپاره د تاوتریخوالي څخه د خلاص او محافظتي چاپیریال د را منځ ته کولو لپاره، د جولای په ۱۱، د کورنیو چارو وزارت د شکایتونو یو میکانیزم تاسیس کړ تر څو د ښځینه پولیسو پر وړاندې د جنسي ځورونې مخه ونیسی او ور ته ځواب ووایي؛ په هرصورت، یاد میکانیزم لا هم په بشپړه توګه فعال نه دی. یوناما د څلورو نړیوالو سازمانونو له جملې څخه د یوه هغه په توګه کار کوي او ور څخه غوښتنه شوې څو د شکایتونو میکانیزم ته تخنیکي ملاتړ چمتو کړي.<br>• د ۲۰۱۶ کال د نومبر په ۹، ولسي جرګې د ښځو او نجونو لپاره د ځورونې د له منځه وړلو په اړه یو قانون تصویب کړ. د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۲۵، مشرانو جرګې د قانون بیاکتنه وکړه او په متن کې یې د تعدیل وړاندیز وکړ چې د ګډ کمیسیون لخوا چې ترکیب یې د دواړو مجلسینو د غړو څخه جوړ شوی، پرې موافقه وشي.<br>• د ۱۷۸ حکومتي کارکوونکو سره (۱۱۳ میرمنې) د پوښتنو په ترځ کې د راولاړو شویو موندنو پر بنسټ، او د متمرکزو ډلو د بحثونه |

| | |
|---|---|
| | سره چې د ۱۹ وزارتونو او سیمه ییزو ارګانونو د خپلواک ریاست سره ترسره شوي، د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۲۵، د ښځو چارو وزارت "د کار ځای د ځنډونو تر سرلیک لاندې راپور پیل کړ : شننه او سپارښتنې "په کوم کې چې دې راپور د کار اړوندې ځورونې دوام ښکاره کړ او همدارنګه یې د کار ځای نور ځنډونه په ګوته کړل چې په حکومتي ادارو کې د ښځینه کارکوونکو د شتون او پراختیا مخه نیسي. راپور یو داسې بنسټ وړاندې کوي د کوم پر بنسټ چې کیدای شي دوي ته د رسیدو لپاره کومې چې د هغو د ځوابولو لپاره هڅې بنا کړي هڅې ترسره کړې. |
| د معافیت سره د مبارزې او د هغه سره د ملاتړ په اړه د حقوقي او پالیسي اقداماتو، او انتقالي عدالت ته د لاسرسۍ په اړه پوهه، بهتر شوی پوهاوی | • په ۲۰۱۶ کې، یوناما د سولې او پخلاینې د نوښتونو له نږدې څارنه کړې، د بیلګې په توګه، د هغې د پنځه کلنې ستراتیژۍ د تصویبولو په برخه کې د سولې د عالي شورا فعالیتونه او د حکومت او اسلامي ګوند ( ګلبدین ) تر منځ د سولې هوکړه لیک. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون او د انتقالي عدالت د مدني ټولنې ډلو د سولې په تړون کې د قضایي خوندیتوب د حکمونو په اړه اندیښنې مطرح کړی او غوښتنه یې وکړه چې د سولې په بهیر کې دې د قربانیانو حقونو ته درناوی وشي.<br>• د ۲۱۰۶ په اکتوبر کې، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر ولسمشر ته د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر میاشت کې په یو لیک کې د سولې د موافقې په اړه اندیښنې ښکاره کړې او د افغانستان حکومت ته یې خپل نړیوال مسولیتونه ور په یاد کړل، نه یوازې دا چې هغه کسان د قانون میز ته را کښ کړي چا چې د بشري حقونو او نړیوال بشري حقونو د قانون جدي سرغړونې ترسره کړې بلکه ، پرته له دې چې سوله او پخلاینه پایښت لرونکې نه ده، د قربانیانو او د دوي د کورنیو حقونو ته درناوۍ وکړي. |
| دولت د بشري حقوقو د نړیوالو موافقو او کنوانسیونونه په اړه د حکومت د راپور ورکولو اړتیاوې بشپړوي او د افغانستان په اړه د بشري حقونو د شورا د نړیوالې دوره یي بیاکتنې د سپارښتنو پلې کول | • د ۲۰۱۶ کال په اپریل کې، د خپلو مکلفیتونو وروسته، د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي څخه د ډک چلند پر وړاندې د ملګرو ملتونو د کنوانسیون ۲۰ ماده، افغانستان خپل دویم دوره یي راپور د شکنجې پر وړاندې د ملګرو ملتونو کمیټې ته وړاندې کړ. یاد راپور د ساده شوې راپور جوړولو تر طرزالعمل لاندې کمیټې ته وسپارل شو، او پوښتنو ته د ځوابونو د یوې مجموعې څخه جوړ شوی چې د " مسلو په نوملړ" کې مطرح شوی، چې په ۲۰۱۰ کال کې د کمیټې د غونډې له خوا تصویب شو. د افغانستان دویمه دوره یي بیاکتنه به د شکنجې پر وړاندې د ملګرو ملتونو د ۶۰ ناستې لخوا په پام کې ونیول شي.<br>• همدارنګه په ۲۰۱۶ کال کې، افغانستان د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په اړه د ځینو دودیزو وسلو په اړه د ۱۹۸۰ کال د کنوانسیون پنځم پروتوکول تصویب کړ، کوم چې د جګړې د ډګر څخه د ناچاودو مهماتو د لرې کولو په اړه مسولیتونه په ګوته کوي. تصدیق باید د مستقیمو اقداماتو د پلې کولو له لارې تعقیب شي څو د هغوي تر کنترول لاندې په اغیزمنو سیمو کې د پاته شونو چاودیدونکو توکو د نشاني کولو، پاکولو او/یا له منځه وړلو څخه ډاډ حاصل شي.<br>• د څارنې او راپور ورکولو په اړه د هیواد د کچې کاري ځواک (د وسله والې شخړې په حالتونو کې د ماشومانو د حقونو د جدي سرغړونو د پلې کولو په اړه) د "څارنې او راپور ورکولو میکانیزم" را منځ ته کړ)، په ۲۰۱۶ کال کې د ۱۶ اضافي واحدونو په پرانیستلو سره، د |

هیواد په کچه د ماشومانو د ساتنې د واحدونو ټولیز شمیر ۲۱ ته هغو ته رسیږي، د افغان ملي پولیسو د استخدام په مرکزونو کې یې د ماشومانو د ساتنې د واحدونو د پراختیا او غځولو په حواله د کورنیو چارو د وزارت له خوا د پام وړ پرمختګ یادونه وکړه.

- د جولای په ۲۸، ولسمشر د افغان امنیتي ځواکونو لخوا د کم عمره ماشومانو د استخدام په اړه د تحقیق او راپور کولو په هدف د ملي کمیټې د جوړولو لپاره یو لارښود صادر کړ. په داسې حال کې چې دې ته په پراخه توګه د یوه مثبت ګام په توګه لیدل کیږي، نوښت د دولت لخوا د ځاني راپور ورکولو پر بنسټ ولاړ دی.
- د کورنیو چارو او پوهنې وزارتونو او د ملي امنیت ریاست د کال په جریان کې د ماشومانو د خوندیتوب د پیاوړتیا لپاره لارښودونه خپاره کړي. د ۲۰۱۶ کال د جون پر ۱۸، د کورنیو چارو وزارت یو لارښود خپور کړ او د ملي امنیت په تور د رسنیو له خوا د نیول شویو ماشومانو نمایش او ښکاره کول منع کوي. د ۲۰۱۶ کا د جون په ۴ او د جولای په ۴، په ترتیب سره، د پوهنې وزارت ټولو اړوندو امنیتي وزارتونو لپاره دوه لارښودونه خپاره کړل چې د خوندي ښوونځیو د اعلامیې سره د افغانستان ژمنې مشخصوي او په امنیتي ځواکونو غږ کوي ترڅو د پوځي موخو لپاره د ښوونځیو کارول ودروي. د ۲۰۱۶ کال د جولای پر ۲، د ملي امنیت ریاست یو لارښود خپور کړ او په هغه کې لارښوونه کوي چې د یاد ریاست په توقیف ځایونو کې له دې وروسته ماشومان نه ساتل کیږي او تر ټولو زیات امنیتي زندان ته د ماشومانو لیږد ودول شي. د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۱۵، د ملي امنیت ریاست په ټول هیواد کې ۴۲ ماشومان د ژغکیو اصلاح مرکزونو ته ولیږدول.

د افغانستان د حکومت او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون مخ پر زیاتیدونکې ظرفیت او ژمنتیا، د بشري حقونو د ملي اداري په حیث، د بشري حقونو درناوی،ساتنه، تحقق او ترویج

- د ۲۰۱۶ کال په ډسمبر میاشت کې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په افغانستان کې د عمل د ملي پلان د تصویب لپاره ملي کنفرانس جوړ کړ. دا مهم نوښت د دې ژمنه کوي چې د مدني ټولنې او نړیوالو فعالینو، لکه د اروپایي اتحادیې او د هغې د شریکانو لخوا په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو د ساتنې لپاره هڅې همغږي او پیاوړي کړي.
- د هیواد په سویلي سیمو کې د افغان پولیسو لخوا په رسنیو کې د ماشومانو د پراخې ناوړه ګټې اخیستنې په اړه د تورونو په غبرګون کې، د ۲۰۱۶ کال د جنوري په میاشت کې، د لوی څارنوال دفتر په کندهار، اروزګان او هلمند ولایتونو کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسون ساحوي دفترونو ته دنده وسپارله ترڅو یاد دفتر ته معلومات وړاندې کړي او همدارنګه د ماشومانو د جنسي تیري پیښې راجع کړي. په داسې حال کې چې دې ته په پراخه توګه د یوه مثبت ګام په توګه لیدل کیږي، نوښت د دولت لخوا د ځاني راپور ورکولو پر بنسټ ولاړ دی.
- د بچه بازی د کړنې ("د هلک د ګډولو/نڅا")، په حواله، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د کال په جریان کې یو لړ هڅې په لار واچولې چې موخه یې د بچه بازي د کړنې مخنیوی او جنایي کول و، د دغو هڅو په پایله کې د ۲۰۱۶ کال په مارچ کې د قانون نهایي مسوده جوړه شوه. په موازي ډول، تعریفونه ، دواړه محافظتي او تنبیهي اقدامونه چې د عمل سره تړاو لري د جزا د تعدیل شوې قانون په متن ځای شوې، او همدارنګه د ماشوم په قانون کې ، چې تر بیاکتنې لاندې دی.

**پنځم. اقتصادي او ټولنیزه پراختیا**

**معیار: د حکومت پالیسۍ ګانې چې د نړیوالې ټولنې له خوا یې ملاتړ کیږي، کوم چې پایښت لرونکې اقتصادي ودې ته وده ورکوي او د ټولیز ثبات سره مرسته کوي.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د ملي لومړیتوب پروګرامونه په نړیوال ملاتړ او تایید سره ډیزاین او پلي شوي دي | • د افغانستان په اړه د بروکسل د کنفرانس لپاره د اکتوبر د میاشتې د ۴-۵ نیټې د چمتووالي په برخه کې، حکومت د افغانستان د سولې او پراختیا لپاره نوې کاري چوکاټ (ANPDF) را منځ ته کړ، او کوم چې به د ملي لومړیتوبونو د پروګرامونو لپاره د یوې پراخې لارښوونې په توګه خدمت کوي. د افغانستان د سولې او پراختیا لپاره نوی کاري چوکاټ د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ ځای نیسي کوم چې په ۲۰۱۳ کال کې پای ته ورسیده.<br>• د ملي لومړیتوبونو د ۱۱ پروګرامونو له جملې څخه د پنځو هغو د چمتووالي په اړه پرمختګ ترلاسه شوی. په اکتوبر کې، حکومت د افغانستان د ولسي تړون د ملي پروګرام د پروژې پرانیسته وکړه ، دا د ملي لومړیتوبونو د پروګرام د ولسي تړون د ملي پروګرام د لسو کلنو لومړی پړاو ده. د دوه اړخیزې حسابورکونې د چوکاټ له لارې د ځان بسیاینې په برخه کې د ژمنو سره په سمون کې، حکومت د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر کې د افغانستان په اړه د ملي لومړیتوبونو د پروګرامونو د پروژو او مسایلو څلور نور لنډیزونه د بروکسل کنفرانس ته وړاندې کړل: د ښځو اقتصادي پیاوړتیا، د ښاري ملي لومړیتوب پروګرام، د ملي زیربنا پلان، او د کرهنیزې پراختیا جامع پلان. |
| په ټول افغانستان کې د پرمختیایي مرستو او حکومتي لګښتونو مساوي ویش | • په څلورو وزارتونو کې د ولایتي بودیجې د پالیسۍ ازمایښتي پلي کول پلي شوي: د عامې روغتیا وزارت، د پوهنې وزارت، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت، او د اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د پالیسۍ د موثره تطبیق لپاره د اړوندو دولتي ادارو لپاره اړوند جامع لارښودونه د ۲۰۱۶ کال د مارچ په ۲۲ د مالیې وزارت لخوا صادر شوې. د ازمایښتي پالیسۍ د تعقیب په حیث او همداراز د ولایتي بودیجې د پالیسۍ د تطبیق د یوې برخې په حیث، د ۲۰۱۷ کال په ملي بودیجه کې د پراختیايي پروژو لپاره ټولټال ۳۴ میلیون امریکایي ډالر (د هر ولایت لپاره یو میلیون ډالر) اختصاص شوې.<br>• د ولسي جرګې (مشرانو جرګې) د ۱۳۹۶ کال (۲۰۱۷) بودیجه د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۲۱ نیټه رد کړه، د ولایتونو تر منځ یې د مالي چارو د اختصاص په برخه کې د نه توازن او د پراختیايي بودیجې د اجرا د ټیټې کچې څخه ذکر کړی. دې د پارلمان د مالي او بودیجې د کمیټې او مالیې وزارت تر منځ د منظمو سلا مشورو لپاره لار هواره کړه چې په پایله کې یې د بودیجې په مسوده کې ځینې تعدیلونه را منځ ته شول. په پای کې بودیجه د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ په ۱۶ د پارلمان له خوا تصویب شوه. |
| د افغان سرچینو پر بنسټ د عایداتو زیاتوالي او دوامداره وده | • د اداري فساد پر وړاندې د هڅو په شمول، د حکومت جاري نوښتونو په ۲۰۱۶ کال کې د عایداتو راټولول د اټکل شویو عایداتو څخه لوړ و. د نړیوال وجهي صندوق د ۴،۰ ۲ میلیارد امریکایي ډالرو د وړاندیز شویو عایداتو په پرتله، عایدات ۴، ۲ میلیارد ډالره راپور شوې. د ټیټې اقتصادي ودې، د پیسو د ارزښت د |

کمیدو،خرابیدونکي امنیتي وضعیت، او مخ پر خرابیدونکو سوداګریزو اړیکو په منځ کې، ترلاسه شوې راغوند شوې عایدات څکه ۲۰ سلنه زیاتوالی څرګندوي. د عایداتو د راغونډولو ډیری برخه د غیر مالیاتي عوایدو موثره را غونډولو، او همدارنګه د وزارتونو څخه عوایدو (د ښاري پراختیا وزارت او د کرنې او اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت) او د افغانستان بانک ته منصوبیږي. که څه هم چې د لوړې او منځنۍ کچې د مالیاتو د ورکونکو لپاره د مالیاتو د راغونډولو کچه په ترتیب سره ۸ او ۵ سلنه راټیټه شوې، خو د منځنۍ کچې د مالیاتو د ورکونکو لپاره د مالیاتو راغونډول ۱۶ سلنه لوړ شوې.

- د نړیوال بانک د سوداګرۍ راکړې ورکړې شاخصونو د مالیاتو د تادیاتو د آسانتیا په اړه په رتبه بندي کې چیرې چې د افغانستان درجه بندي ۱۳ پوانټه ټیټه شوه، د افغانستان رکود ثبت کړی. د افغانستان رتبه یو پوانټ را ټیټه شوه، په شاخص کې د ۱۹۰ هیوادونو له جملې څخه په ۱۸۳ درجه کې قرار لري. په ۲۰۱۶ کې په مالیاتي سیستم یوه لویه اصلاح را منځ ته شوه ، چې په دې سره د دوو څخه تر څلورو پورې د اساسي سوداګرۍ مالیه دوه برابره شوه په داسې حال کې چې یو شمیر غیر مستقیم مالیات هم پلي شوي. د سوداګرۍ د مالکینو په وینا، دا نوي مالیاتي اصلاحات د دې لپاره دا چاره لا نوره هم ستونزمنه کوي چې د خپلو کاروبارونو څخه ګټه پورته کړي.
- د افغانستان د مالیاتو د ورکړې په آسانتیا کې د کموالي برسیره، د نړیوال بانک د سوداګرۍ د راکړې ورکړې د شاخصونو سروې د پاته شپږو شاخصونو په اړه چې د سوداګرۍ او د ودې د ارزولو لپاره کارول کیږي او په هیوادکې د چاپیریال سره مرسته کوي د افغانستان په رتبه بندي کې مخ پر خرابیدونکی وضعیت ثبت کړی. د پام وړ کموالی د نوې سوداګرۍ د پیلولو، کریډیت ته د لاسرسي او اسانتیاوو په برخه کې، د بیلګې په توګه، د بریښنا په ساحو کې تر سترګو شوی. د سوداګرۍ د راکړې ورکړې د شاخصونو په سروې کې د افغانستان ټولیزه درجه د ټولو لسو واړو شاخصونو د مجموعې ترکیب دی، یو پوانټ راټیټه شوې.
- نړیوال بانک په ۲۰۱۶ کال کې په افغانستان کې د ناخالصو تولیداتو وده ۲. ۱ سلنه اټکل کړې، خو د ۲۰۱۷ کال کال لپاره یې ۸. ۱ سلنې د ودې یو ښه میزان وړاندوینې کړې. په هرصورت، د دوو او دریو سلنې تر منځ د نفوسو د ودې په درلودلو سره، د اقتصادي ودې دا کچه د عوایدو د کچې د ساتلو لپاره ناکافي ښکاري، همدارنګه دا په ډاګه کوي چې د فقر کچه به لوړه شي.
- د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۱۳، د مالیې په وزارت کې د اعتراضونو د بیا کتنې ریاست په مالیې وزارت کې د افغانستان د عوایدو په ریاست کې تمویل کونکو ته د مالیاتو د کارې ډلې راپور وړاندې کړ. د راپور موخه، کوم چې د دوه اړخیزې حسابورکونې د چوکاټ له لارې د ځان بسیاینې په برخه کې د ژمنو سره په سمون کې جوړ شو، دا وه چې د مالیاتو د راغونډولو په برخه کې هغه ننګونې په ګوته کړې کومې چې د بیلابیلو استثناګانو په لړ کې را منځ ته کیږي او د تمویل کونکو په واسطه د تمویل شویو نوښتونو لپاره برابریږي ترڅو د پوښتونو د حل کولو په موخه یو میکانیزم را منځ ته کړي. د دوه اړخیزې حسابورکونې د چوکاټ له لارې د ځان بسیاینې په

| | |
|---|---|
| | برخه کې د ژمنو سره په سمون کې، د راپور په اړه سلامشورې به په ۲۰۱۷ کال کې هم صورت ومومي. |

**شپږم: سیمه ییزه همکاري**

**معیار: د سوکالۍ، سولې او ټیکاو په ملاتړ پایښت لرونکې او موثره سیمه ییزه همکاري.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د سیمه ایزو ارګانونو ښه همغږۍ او د سیمه ییزو پانګونو زیاتوالي | • د اپریل په ۸، په اشق آباد کې په ۲۴ مخکښه کمیټه کې، شریکانو د تاپي په اړه د پانګونې تړون لاسلیک کړ. د اپریل په ۲۳، په الماتې کې، افغانستان، تاجکستان، قرغیزستان او پاکستان د پروژې د پلي کولو سندونه نهايي کړل او د CASA ۱۰۰۰ د عملي کولو لپاره یې وروستۍ پریکړه وکړه.<br>• د ۲۰۱۶ کال د اپریل په ۲۵، د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د ترکمنستان د بهرنیو چارو له وزیر سره د تاپي د روژې په اړه د پرمختګ، په دوه اړخیزه سوداګرۍ او په سیمه کې د سولې، ثبات او امنیت د اړتیا په اړه خبرې اترې وکړې.<br>• د ۲۰۱۶ کال د مۍ په ۱۲، د تاجکستان په تورزونزا کې، د افغانستان اجراییوي رییس، د پاکستان صدراعظم، د تاجکستان ولسمشر، او د قرغیزستان لومړي وزیر په ګډه د CASA۱۰۰۰ پروژې پرانسته وکړه.<br>• د ۲۰۱۶ کال د مۍ په ۱۶، چین ته د اجراییوي رییس د دولتي سفر پر مهال، د دواړو هیوادونو ترمنځ د دوه اړخیزو همکاریو اووه موافقتنامې لاسلیک شوې.<br>• د ۲۰۱۶ کال د مۍ په ۱۶، په تهران کې، ولسمشر غني، د ایران د اسلامي جمهوریت او د هند لومړی وزیر د یوه درې اړخیزه ترانسپورتي او ترانزیتي دهلېز د تاسیس په اړه د هوکړه لیک شاهدان وو. د دې موخه، د دریو هیوادونو ترمنځ د سوداګریزې راکړې ورکړې د جریان آسانول دي، په بالقوه توګه منځنۍ آسیا ته غزول کیږي.<br>• د ۲۰۱۶ کال د جون په ۴، د هرات په ولایت کې، افغان ولسمشر او د هند صدراعظم د ۲۹۰ میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت د سلما د بند د هایدرولیکټریک د بریښنا پروژه افتتاح کړه.<br>• د ۲۰۱۶ کال د جون په ۲۳ او ۲۴، ، په تاشکند کې، افغان ولسمشر د شانګهای د همکاری د سازمان (SCO) په ۱۶ غونډه کې ګډون وکړ. هغه د روسیې د ولسمشر، د ازبکستان د ولسمشر، د قزاقستان د ولسمشر او د قرغزستان د ولسمشر سره دوه اړخیزې ناستې درلودې.<br>• د ۲۰۱۶ کال د جولای په ۱۹، په پاکستان کې، د افغانستان، پاکستان او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر استازو د دری اړخیزه کمیسیون په ۲۷ ناسته کې سره ولیدل. دوي د موجوده دری اړخیزه تړون تمدید چې د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر تر ۳۱ نیټې پورې د خپلې خوښې د بیرته راستنیدنې چارې پر مخ بیایي، لاسلیک کړ. |

- د ۲۰۱۶ کال د اګست په ۳، د چین په اروومچي کې، د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د څلور اړخیزې همکارۍ او همغږۍ د میکانیزم په اړه د لوړ پوړو پوځي مشرانو پرانیست غونډه جوړه شوه او د افغانستان د وسله والو ځواکونو، چین، پاکستان او تاجکستان استازو په کې ګډون درلود. موافقه وشوه چې د "استخباراتي معلوماتو د شریکولو، په ساحو کې " د ترهګرۍ پر وړاندې د ظرفیت د را منځ ته کولو او د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې د ګډو روزنو په شمول، د یو بل سره د همکارۍ او ملاتړ د را منځ ته کولو په هدف "یو څلور اړخیز میکانیزم را منځ ته کړي ".
- د ۲۰۱۶ کال د اګست پر ۵، په تهران کې، د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال د افغانستان او ایران ترمنځ په دریمې سیاسي مشورتي ناسته کې ګډون وکړ. دواړو لوریو د دواړو هیوادونو ترمنځ د رسمي اړیکو په پیاوړتیا، او پراختیا ټینګار وکړ او د امنیت او سیمه ییزو چارو، د ترانزیټ د سوداګرۍ، اقتصاد، کلتوري اړیکو، قونسلګرۍ او د کډوالۍ او د وزارتونو تر منځ د اړیکو او همکاریو د پراختیا د چارو په برخه کې د دوه اړخیزو همکاریو په اړه نظریات تبادله کړل.
- د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر په ۷، د ایران او افغانستان لوړ پوړو چارواکو د ایران په شمتیغ کې د پولې په اوږدو کې په یوه غونډه کې ګډون وکړ ترڅو د خاف-هرات د ریل پټلۍ د ایران د پلان شوې برخې د بشپړیدو لمانځنه وکړي.
- د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر په ۱۴ او ۱۵، افغان ولسمشر هند ته لاړ او د هند له لومړی وزیر سره یې لیدنه وکړه. دواړو مشرانو د سیمه ییز وضعیت په اړه خبرې وکړې او په سیمه کې یې د تروریزم او تاوتریخوالي د دوامدار کارولو په اړه اندیښنه څرګنده کړه.
- د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۴، په بروکسل کې، ولسمشر غني، اجرائیوي رییس عبدالله او د بهرنیو چارو وزیر رباني د افغانستان په اړه د بروکسل د کنفرانس په څنډه کې په غونډه کې چې تمرکز یې په افغانستان کې د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ په اړه و، ګډون وکړ. د لوړې کچې د دغې پیښې تمرکز د انرژۍ، د توکو او معلوماتو په لیږد و. دې ناستې د لومړیتوب ۱۱نورې پروژې مشخصې کړې.
- د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر د ۱۸ څخه تر ۱۹ هغې پورې ، د ازبکستان په تاشکند کې، د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د اسلامي همکاریو د سازمان (OIC) د بهرنیو چارو د وزیرانو د شورا په ۴۳ غونډه کې ګډون وکړ. په دې لړ کې، د ازبکستان سره د استرداد یو تړون لاسلیک شو.
- د ۲۰۱۶ کال د نومبر د ۳ څخه تر ۴ هغې پورې، اجرائیه رییس په بشکیک کې د شانګهای د همکاریو د سازمان د حکومتونو د مشرانو په ۱۵غونډه کې ګډون وکړ. په دې غونډه کې د افغانستان د دایمي غړیتوب په اړه بحث وشو.
- د ۲۰۱۶ کال د نومبر په ۱۶، په باکو کې، د لاجوردو د لارې تړون د افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان، جورجیا او ترکیې لخوا نهایي شو، چې باید د هیوادونو د مشرانو لخوا لاسلیک شي.
- په ۲۰۶۱ کال کې، د ۶ + ۱ ګروپ څلور غونډې ترسره شوې، په کومو کې چې افغانستان، چین، هند، ایران، پاکستان، روسیه او امریکا شامل دي. یادې غونډې د فبروري په ۴ په برلین کې، د جون

په شپږمه په استانبول کې، د سپتامبر په ۲۲ په نیویارک کې او وروستۍ هغه یې د ډسمبر په ۲ د هند په امرتسر کې ترسره شوه.

- په ۲۰۱۶ کال کې، د آسیا زړه - د استنبول بهیر – چې ملاتړ یې د یوناما لخوا د آسانتیاوو او د ښه نیت کړنو د چمتو کولو له لارې کیږي - د ګډون کوونکو هیوادونو او سازمانونو تر منځ د باور جوړونې د اقداماتو د پراختیا لپاره ډیری ناستې ترسره کړې. د مارچ په ۴، په ډهلي کې، د سوداګرۍ، تجارت او پانګه اچونې د فرصتونو په تړاو د باور جوړونې د اقدامونو د سیمه ییزې تخنیکي ډلې غونډه جوړه شوه. د مارچ په ۱۰، په تهران کې، د ښوونې او روزنې په تړاو د باور جوړونې د اقداماتو د سیمه ییزې تخنیکي ډلې غونډه جوړه شوه. د اپریل په ۳، په کابل کې، چیرې چې د ۲۰۱۶ کال لپاره ۷ فعالیتونه لومړیتوب بندي شو، د تروریزم سره د مبارزې په تړاو د باور جوړونې د سیمه ییزې تخنیکي ډلې ناست غونډه جوړه شوه. د سپتمبر په ۶، په اشقابات کې، د سیمه ییزې زیربنا د باور جوړونې په تړاو د سیمه ییزې تخنیکي ډلې غونډه ترسره شوه. د ډسمبر په ۹، په آستانه کې، د پیښو د مدیریت په تړاو د باور جوړونې د اقداماتو د سیمه ییزې تخنیکي ډلې غونډه جوړه شوه تر څو د ۲۰۱۶ کال د عمل په پلان کې د فعالیتونو تطبیق و ارزوي.
- په ۲۰۱۶ کال کې، د آسیا زړه - د استانبول پروسه، چې د افغانستان او هند په ګډه مشرۍ ترسره شوه، د لوړ پوړو چارواکو د کچې دری غونډې ترسره کړې. د اپریل په ۲۶، په ډهلي کې، د لوړ پوړو چارواکو د کچې یوه غونډه ترسره شوه چې د ۲۰۱۶ کال د آسیا زړه -استانبول بهیر لپاره یې "د ننګونو د ځوابولو، سوکالي ته د رسیدو" تر سرلیک لاندې موضوع غوره کړه. د سپټمبر په ۲۳، په نیویارک کې د عمومي غونډې په څنډه کې د لوړ پوړو چارواکو غونډه ترسره شوه. د ډسمبر ۳، د ۲۰۱۶ کال لپاره د لوړ پوړو چارواکو وروستۍ غونډه په امرتسر کې جوړه شوه. یوناما په دې غونډو کې د افغان حکومت سره د بهیر د پرمخ وړلو په برخه کې مرسته وکړه.
- د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۴، په امرتسر کې، د یوناما په مرسته د آسیا زړه - د استانبول د پروسې د وزیرانو کنفرانس ترسره شو. ولسمشر غني او صدراعظم مودي د دې کنفرانس پرانسته وکړه. د امرتسر اعلامیه سیمې ته د ور پیښو امنیتي ګواښونو سره د مبارزې په برخه کې ، او د اقتصادي فرصتونو په اړه د پانګې اچونې په برخه کې د سیمه ییزو همکاریو پر اهمیت تمرکز کوي. اعلامیه همدارنګه د یوې سیمه ییزې کړنلارې د را منځ ته کولو غوښتنه کوي چې د افراطیت سره مبارزه وکړي او همداراز په دې پوهیدل چې په سیمه کې د وړو او منځنیو شرکتونو وده پیاوړې کړي، او همدارنګه د ۲۰۱۵ کال د اسلام اباد د اعلامیې د یوې برخې په حیث د ترهګرۍ پر ضد د سیمه ییزې ستراتیژۍ جوړولو ته دوام ورکړي.
- د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۲۷، په افغانستان باندې د تمرکز په اړه، په مسکو کې د پاکستان، چین او روسیې درې اړخیزه غونډه ترسره شوه. د افراطي ډلو د ظهور او رابرسیره کیدو په اړه د اندیښنو په څرګندولو سربیره او د افغانانو تر - مالکیت او رهبري لاندې د سولې د پروسې په اړه د دوامداره هڅو سره موافقه وکړه، روسیې او چین دواړو وویل چې دوي به د ملګرو ملتونو د بندیزونو د لیست څخه

| | |
|---|---|
| | د افغان طالبانو د ځينو غړو د ايسټلو په موخه خپلو هڅو ته دوام ورکړي. |

اووم. د افغانستان او نړيوالي ټولنې تر منځ مشارکت

معيار: د افغانانو تر رهبري لاندې د همغږي په چوکاټ کې د افغان لومړيتوبونو لپاره د نړيوالي ټولنې له خوا منسجم ملاتړ

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقايسونه* |
|---|---|
| • د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژي او د حکومت د لومړيتوبونو سره د مرستو د همغږي د سلنې زياتوالی | د مرستو د مديريت د اوسني پاليسۍ سره سم، حکومت پر بودجې د ولاړو ميکانيزمونو له لارې پر مرستې غور کوي تر څو د دولت د لومړيتوبونو سره سل په سلو کې سمون ولري او بسپنه ورکوونکي په ۲۰۱۶ کال کې هڅه کوي څو د دوه اړخيزه حسابورکوني د چوکاټ د ژمنو له لارې ځان بساينه حفظ او د دې ډول ميکانيزمونو له لارې د رسمي پراختيايي مرستو کم تر کمه ۵۰ سلنه ارئه کړي. بسپنه ورکوونکي همدارنګه د دوه اړخيزه حسابورکوني د چوکاټ د ژمنو له لارې د ځان بسياينې تعقيبولو او دوام ته ادامه ورکړي ترڅو د حکومت د لومړيتوبونو سره رسمي پراختيايي مرستي همغږي کړي. د مالي وزارت د مرستو د مديريت رياست د معلوماتو د راټولولو په اړه، او د کلنۍ پراختيايي همغږي د خبرو اترو د بهير له لارې د رسمي پراختيايي مرستو د همغږي له لارې بحث کوي، لکه څنګه چې د افغانستان د سولې او پراختيا د ملي کاري چوکاټ تر چوکاټ لاندې د لومړيتوب نوي ملي پروګرامونه لا هم د جوړيدو په حال کې دي، خو په ۲۰۱۶ کال کې يې د مرستې د ټوليزې همغږي په اړه معلومات نه دي خپاره کړي. |
| • د دولت او نړيوالې ټولنې په استازيتوب د تدارکاتو او قرارداد په اړه بهتر شوی احتساب | د ملي تدارکاتو ادارې (NPA) د "اصلاح مجموعه/ائتلاف" پراخه کړې، په عمده توګه د مدني ټولنې، خصوصي سکټور، حکومت او نړيوالو پرمختيايي شريکانو له همکارانو څخه جوړه شوې. د دې کاري چوکاټ لاندې، د تدارکاتو ملي ادارې د ۲۵۰ ميليارده افغانيو (۳ ميليارده امريکايي ډالرو) په ارزښت له ۲۰۰۰ څخه زيات لوی او منځني قراردادونه تصويب کړل، چې نتيجه يې د ۱۸,۳ ميلياردو افغانيو (۲۷۰) ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت سپما شوې. د تدارکاتو ملي ادارې همدارنګه شاوخوا ۱۰۰ شرکتونه د دې لپاره په تور لست کې راوستي چې د روڼتيا او احتساب اړتياووې يې نه دي پوره کړې. |
| • د افغان لومړيتوبونو او دوه اړخيزو ژمنو په اړه د پرمختګ د منظمې ارزونې د يوې وسيلې په حيث د کابل د پروسې د ملاتړ په برخه کې د ګډي همغږي او بياکتنې د هيئت پياوړتيا | د اپريل په ۴ او د سپتمبر په ۴، په کابل کې د همغږۍ او څارنې ګډ بورډ د مالي د وزير او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړي استازي په ګډه مشرۍ، دوه ناستې ترسره کړې، څو د افغانستان په اړه د بروکسل د کنفرانس لپاره د حکومت چمتووالي و ارزوي، او د دوه اړخيزې حسابورکونې د چوکاټ له لارې د ځان بسياينې لاندې د ګډو ژمنو په اړه پرمختګ وارزوي. دغو غونډو د ولسمشر غني او اجرائيه رييس عبدالله ويناووې، او د يو شمېر وزيرانو او لوړ پوړو چارواکو، او همداراز د افغان خصوصي او مدني ټولنې د سکتورونو د شريکانو څرګندوني وړاندې کړې. د مدني ټولنې استازو د اصلاحاتو د کيفيت او سرعت |

| | |
|---|---|
| | په اړه اندیښنه وښوده، د عدلي سکټور په دننه کې يې د فساد شتون ، د ناامنیو له کبله يې د مدني ټولنې او بشري حقونو د مدافعینو لپاره د فضا کمیدو مشاهده کړی. نړیوالو شریکانو په بیلابیلو موضوعاتو باندې چې د اصلاحاتو، انکشافي پرمختګ او د پرمختګ لپاره د ساحو په اړه مشخصات وړاندې کوي غونډې ته وینا وکړه.<br>• په ۲۰۱۶ کال کې د بسپنه ورکونکو د همغږۍ په برخه کې د یوناما د هڅو ډیری برخه د اکتوبر په میاشت کې د بروکسل د کنفرانس لپاره په چمتووالي باندې تمرکز کوي. د همغږۍ او څارنې د ګډ هیئت د ناستو سربیره، د موجوده غونډې په چوکاټ کې چې د مالیې وزارت او یوناما په مشرۍ جوړه شوې وه او لوی مرستندویان پکې شامل وو، منظمې خبرې اترې ترسره شوې. په مطرح شویو بحثونو کې د فساد سره د مبارزې، د عایداتو د را منځ ته کولو، بې وزلۍ، او د اقتصادي ودې په ساحو کې هڅې شاملې دي. د افغانستان په اړه د بروکسل د کنفرانس څخه وړاندې، یوناما د حکومت او بسپنه ورکونکو سره کار وکړ ترڅو د "تحویل وړ"، یا د لومړیتوب د اصلاحاتو د ژمنو په اړه، د دوه اړخیزه احتساب د کاري چوکاټ له لارې د ځان بسیا کولو لاندې یو نوی چوکاټ تشریح کړي. د افغانستان په اړه د بروکسل د کنفرانس لپاره د چمتوالي په تعقیب، یوناما له شریکانو سره کار کولو ته دوام ورکړ څو په کابل کې د کاري کچې د غونډې له لارې د دغو ژمنو په تړاو د پرمختګ لپاره اسنتیاووې برابرې کړي.<br>• یوناما همدارنګه د همغږۍ او ارزونې د ګډ هیئت د ناستو په برخه کې چې د ۲۰۱۶ کال د اپریل او سپټمبر په میاشتو کې ترسره شوې، په اکتوبر کې د بروکسل د کنفرانس لپاره، او په دغو دریو غونډو کې د مدني ټولنې د استازیتوب څخه د دفاع په خاطر د دوی سره د هغوی د موقف پاڼو او بیانونو د چمتو کولو په برخه کې د افغان مدني ټولنې سره تخنیکي مرسته وکړه.<br>• یوناما د افغانستان په اړه د بروکسل کنفرانس ته د مدني ټولنې د کاري کمیټې د لسو استازو په ټاکلو کې تخنیکي مشورې برابرې کړې؛ په کنفرانس کې د مدني ټولنې د ۱۰ استازو سره د عمومي منشي د ځانګړي استازي/ د عمومي منشي د ځانګړي استازي د مرستیال تر منځ لنډ معلومات / مشورې؛ او همدارنګه د مدني ټولنې او مالیې وزارت ترمنځ مشورې برابرې کړي ؛ د کنفرانس په پای کې يې د مدني ټولنې د کاري کمیټې لپاره د تعقیب په چارو کې تخنیکي مرستې برابرې کړې، په ځانګړې توګه چیرې چې کمیټې د بروکسل د کنفرانس په تړاو د حکومت او نړیوالې ټولنې د ژمنو د څارنې او پلې کولو په اړه ګامونه پورته کوي. |

**اتم: د مخدره توکو سره مبارزه**

**معیار: د تریاکو د کښت د تقلیل ، د مخدره توکو د تولید او په مخدره توکو په اعتیاد کې پایښت لرونکی رجحان**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د تریاکو د کښت، مخدره توکو د تولید او اعتیاد په میزان کې کاهش | • تر کښت لاندې د اټکل ۲۰۱۰۰ هیکتاره ځمکې په درلودلو سره، په ۲۰۱۶ کال کې په افغانستان کې د تریاکو کښت ۱۰ سلنه زیات |

| | |
|---|---|
| | شوی، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۵ کال کې د ترياکو کښت په ۱۸۳۰۰۰ هيکتاره ځمکه کرل شوې و.<br>• په ۲۰۱۶ کال کې، د ترياکو نرخونه د هيواد په تولو سيمو کې لوړ شوې . نږدې ۰.۹ ميليارده امريکايي ډالره يا د افغانستان د داخلي نا خالص توليد د نږدې ۵ سلنې معادل، د تير کال په حواله(د انفلاسيون لپاره نه دې تنظيم شوې) په ۲۰۱۶ کال کې په کرونده کې د ترياکو د توليد ارزښت ۵۷ سلنه لوړ شوی.<br>• هلمند د هيواد په کچه د ترياکو د کښت تر ټولو ستر توليدونکي ولايت و، په دې پسې بيا د بادغيس، کندهار، ارزګان۱، ننګرهار، فراه، بدخشان او نيمروز ولايتونه راځي. په ۲۰۱۶ کال کې، په افغانستان کې د ترياکو څخه د پاکو ولايتونو شمير د ۱۴ څخه ۱۳ ته را ټيټ شوی. په جوزجان کې د ترياکو کښت، د هيواد په شمالي سيمه کې د ترياکو څخه د پاک ولايت موقف له لاسه ورکړ کوم چې دي ولايت په ۲۰۰۸ کال کې ترلاسه کړی و. د يوه هيکتار ځمکې پر سر د ترياکو اوسط محصول ۸. ۲۳ کيلو ګرامه و، چې دا د ۲۱۰۵ کال په پرتله ۳۰ سلنه لوړ و. |
| • د موثره مخنيوي او قاچاق ضد هڅو په برخه کې کې زياتوالی | • په ۲۰۱۶ کال کې، د قانون افغان نافذونکو چارواکو د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ټولټال ۲۱۹۲ عمليات ترسره کړې د کومو په نتيجه کې چې ۴۷۵۹ کيلو ګرامه هيروئين، ۴۷۰۴۸ کيلو ګرامه مورفين، ۴۸۰۲۲ کيلوګرامه ترياک، ۶۶ کيلوګرامه ميټامفيټامين، ۶۸۶ MDMA ټابليټونه، ۳۵۲۱۷۱ کيلو ګرامه چرس، جامد پيش ماده کيمياوي توکي، ۱۵۰۳۴ ليټره مايع پيش ماده کيمياوي توکي ضبط کړې. د مخدره توکو سربيره، د دغو عملياتو په نتيجه کې د هيروئينو ۵۷ او د ميټامفيټامينود د توليد اته لابراتوارونه له منځه تللي، ټولټال ۲۵۴۸ تورن کسان يې نيولي او ۴۸۵ نقليه وسيلې، ۲۱۲ وسلې، ۳۴۷ ګرځنده موبايلونه او ۷ قبضې راډيو ګانې نيولې. |
| • په هغو ځمکو کې چې پخوا پرې ترياک کرل کيدل، په ناقانونه کرهنه او اړوند خصوصي پانګونې کې د پانګې اچونې زياتوالی | • د ترياکو په کښت کې د ۱۰ سلنې زياتوالي او په ۲۰۱۶ کال کې د ۴۳ سلنې توليد سربيره، د قانوني محصولاتو او حاصلاتو د توليد په برخه کې مثبت پرمختګ تر سترګو شوی. د سوداګرۍ او صنايع د وزارت په حواله، د سوداګري ارقام ۲۰ سلنه لوړ شوې، په دې کې يواځې د وچو ميوو صادرات نه بلکه د سابو او تازه ميوو، د بيلګې په توګه، د انارو، انګورو او مڼو صادرات هم راځې. دا ميوې پاکستان، عربي متخده اماراتو او هندوستان ته صادري شوې.<br>• د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو د خونې يوه سروې ښيي چې په ۲۰۱۶ کې د پروان، سمنګانو، سرپل، جوزجان، هرات او کندهار په ولايتونو کې د انګورو توليد لږ تر لږه ۲۰ سلنه زيات شوی. په پروان کې، د انګورو توليد دوه برابره شوی، په داسې حال کې، چې په سمنګانو کې، د ۲۰۱۵ کال د ۷۰۰۰ ټنو انګورو د توليد په پرتله په ۲۰۱۶ کې د انګورو توليد ۹۰۰۰ ټنو ته لوړ شوی. د کندهار د انګورو ارزښت ۲،۳ ميليونه ډالرو ته رسيدلی او ډيری يې پاکستان، هند او متحده عربي اماراتو ته صادر شوي.<br>• د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د وزارت (MAIL) لخوا په يوه راپور کې په افغانستان کې د غنمو د کښت او توليد په برخه کې نهه نيم سلنه زياتوالی ښودلی. راپور د څلورو نيم ميليون ټنه غنمو حاصلات په ګوته کړي چې له هغې څخه درې نيم ميليون ټنه يې د خړوبي ځمکې او شاوخوا ۸۵۰،۰۰۰ ټنه د للمو ځمکو څخه تر لاسه شوې. راپور همدارنګه په افغانستان کې د سبزيجاتو د توليد |

| | |
|---|---|
| | لپاره غوره شوي تخنيکونه هم په ګوته کوي، خو د ظرفيت او د کيفيت د محصولاتو نشتوالی په سيمه او د سمېي څخه ور هاخوا کې د توليداتو د بازار موندنې په برخه کې يو خنډ پاتې دی. |